# یادونه اونکلونه

دلنډو کیسو ټولګه

**لیکوال : محمد اکبر کرګر**

## ډالۍ:

## مېرمن کوچۍ کرګرته !

هغه کتابونه چې سمسور وېبپاڼې پرلیکه کړې او یا یې پرلیکه کوي، نور څوک یې پرلیکه کول اجازه نه لري

**www.samsoor.com**

یادونه او نکلونه www.samsoor.com محمد اکبر کرګر

## یا دونه او نکلونه:

## د نن او پرون روایت

یادونه او نکلونه د هیواد د خورا هڅاند لیکوال ، ژباړن او څیړونکی اکبر کرګر صاحب د لنډو داستانی تجربو یوه بله تجربه ده. دا چې د کرګر صاحب کیسې د معاصرې کیسه لیکنې په تول څومره برابرې او په دې ادبی فورم او ژانر کې څومره بریالی او نن سبا په پښتو کیسه کې کوم مقام لری نه غواړم په صفتونو او ستاینو یی تا سو د کیسې مینه وال اړ باسم چې کیسې به هرمرو ولولئ او زما په څیر به د کیسو خوندو څکئ او ځا نته به انځور کړئ ، دا ستاسو خپل کار او له کیسو وروسته خپل احساس او برداشت دی چې چیرې مو خوښه وی څرګند کړئ. خو هغه څه چې زه یی ویل غواړم دادی چې کرګر

صاحب پخپل تخلیق کې یوازینی او د خپل سبک او لارې څښتن دی او په هره داستانی لنډه او یا دفکشن په بله بڼه (ناول) کې به د خپلې ځانګړې کیسه لیکنې هویت له ورایه ځلیږي.

دی یو لـه هغـو د ګوتـو پـه شـمار افغـا ن او پـه ځا نګـړې توګـه د پښتنو لیکوالو څخه دی چې نه یوازې د نړیوالـو ادبیا تـو د ګڼو مکتبونو او سبکونو : سمبولیزم، ایګزیستینسیا لیزم ، ،ټولنیز ریالیزم

، نیـو ریـالیزم او نـن سـبا د کـوډګر ریـالیزم د وتلـو اسـتا زو : داستایفسـکی، چخـوف ، کـا فکـا ، کـا مـو ، پـا موک،نجیـب محفوظ، ګا رسیا ما رکز ،بورخس او نورو.......... په مطا لعې تـل ځا ن بوخت سا تلی،بلکې پـه خپلو اثـار او هسـتونو کـې یې هـم دغه مکتبونه او سبکونه تجربه کړی دی. ددوی دا ډول مطا لعه او پنځـونې ثـا بتـوی چـې دی لکـه د افغـا نسـتا ن ډیـری کیسـه پنځـونکی پـه پـرون کـې نـه دې حصـا ر بلکـې د زمـا ن سـره روان لیکوال دی او تل لکه دنړۍ نور پنځونکی نوې تجربې نه هیروی.

سره له دې چې ځنې وختونه د هغو ډیرو چې دده په کیسـو یـې سر نه خلاصیږی او هغه د افغا ن لوستونکی له سویې پورته بولی لـه نیوکـو او ادبی متروکـو لا نـدې هـم را غلـی خـو دی پـه دې ټولـو غبرګونونو غوږونه کـا نـه اچوی ،سر پرې نـه ګرځوی او پـه سړه سینه خپله لار وهی او په هره داستانی ټولګه کې په نوو بڼو او نـو مضا مینو موږ ته خپلې نوې داستا نی تجربې را پیژني.

یادونه او نکلونه دده څلورمه دا ستا نی ټولګه ده. پـه دې ټولګـه
کې هم دی دده د نورو ټولګو پـه څیر مو ر ته خپلې کیسـې پـه ګڼو
مکتبونو کې روایتـوی لکـه: لـه نښـې وروسـته ،یـوه خبـره ، سـرې
منګولې ، د څو ما ښا مونو پـه تروږمـۍ کې ،((ریا لیزم)) ترهـه پـه
ننوتو کې ، یادونه او نکلونـه ،((کوډګر ریـا لیـزم)) چـې پـه دغـه
سبک کې د ښا غلی نجیب منلی لـه یوې کیسـې پرتـه مـا د بـل چـا
کیسه نه ده لیدلې

پـه دې ټولګه ((یادونه او نکلونه)) کې کـه دی د نن کیسه او دنن
تجربه بیا نوی بیا هم هڅه کوی نن لـه پـرون سـره وتـړی او د نـن پـه
احسا سیدو مـو پـرون تـه وروګرځـوی. زمـا لـه نظـره پـه پښـتو
کیسو کې بـه پـه دې کچـه دومـره فلشـبکونه بـل لیکـوال پـه خپلـو
کیسـو کـې نـه وی وړانـدې کـړی: ګرځـون ، بړبـوکی، زمـوږ بـرګ
سپی او دده د نورو کلکسینونو نورې ډیرې کیسې

پـه دې خبرو برسیره دده تخلیق دده تشـې اوریـدلې کیسـې نـه دی
بلکـې دده دکیسـو لویـه برخـه دده ځـا نـی اروایـې تجربـې او د
ژوندانه او چا پیریا ل د پیښـو پـه وړانـدې دده ځـا نـی غبرګون او
فلسفه ده. دې تشې کیسې نه روایتوی بلکې پـه خپلو روایا تـو او
تصـویرونو لـه مـوږ هـم غـواړی د ژونـد ، چـا پیریـال او پیښـو پـه
وړاندې خپله را یه ، نظر او فلسفه لـه ده سره شریکه کـړو. د ژونـد

او پېښو فلسفي جاج دده له ځاني طبيعته سر چينه اخلي دا ځکه چې نوموړی په فلسفه کې زده کړې کړی او نن يې هم د فلسفي ليکنو او اثارو مطالعه د مطالعې لويه برخه جوړوي-

دختو کوټنۍ په کيسه کې ليکوال د سيزيف دافسانې په څير مفکوره غزوي او هغې ته انعکاس ورکوي خو نه دتقليد په بڼه بلکې دتخليق يو نوي ډول په توگه-

زما له نظره چې تل مې له ده سره ياده او له ده مې نه ده پټه کړې که دي پخپلو هستونو کې بيره ونه کړی له ده د لا ښو کيسو طمع کيدای شي: دده د غوايي هډوکي ناول او ددې ټولگې همدا مرکزي کيسه ((يادونه او نکلونه ))ثابتوي چې کرگر صاحب په پښتو کيسه ليکنه کې نه يوازې د کيسه ليکنې د نوو فورمونو لکه سيال ذهن ، کوډگر رياليزم او نورو په کارولو سره ځانته خپل ځانگړی ځای ټاکی بلکې په کيسو کې د نوو مضامينو: کډوالۍ ، د مصنوعي اتلانو او شهيدانو او نورو په تصويرولو سره هم ځانته خپل لوستونکي او مينه وال مومي

دده دلا بريو او نوو تخليقاتو په هيله

وکيل سوله مل

لندن ، انگلستان

# له نښې وروسته

یوه شیبه ښه په زوره و ټوخیدا وچې کله یې ټوخی ودرید نو غاړه یې صافه کړه. سپین ږیری په کرار له زاړه کټ څخه راکړوپ شو. کلوشې یې له کټ لاندې کړې. بیا یې د شنو چایو چاینک او شنه پیاله هم تر کټ لاندې ننویستله. د چرسو چیلم یې هم چې تازه یې له سرخانې لوړی خاته اوله تازه اوبو لوند خیشت و له خپلې مخې لیرې کړ. د کټ سر ته یې ودراوه او بیا یې ځان دې ته جوړکړ چې پښې وغځوي او خپله دمه جوړه کړي.

زموږ د سلام په اچولو سره هغه لږ او تر غوندې شو. زما سره روان کس ته یې چې زما په عمر و په زیر زیر وکتل او بیا یې و پوښتلم:

چیرته ځې ؟

هسې تر اغه بر (پورته ) وستل پورې دا ملګری بدرګه کوم بیرته راګرځم.

سپین ږیرې نور غږ ونه کړ. غلی په کټ کې پریووت. زه ډیر واټن پورته ولاړم او چې کله بیرته راستون شوم له لیرې هم د کلا خوا (چنه) ښکاریده. او د پاسنیو پټو څخه چې کلا یې په بیخ یا ژوره کې پرته وه هر څه له پاسه په ډاګ مالومیدل. خو په دې ټوله

اوږده شيبه کې را سره همدا تلوسه چاغيدله اولويدله چې ولې نن بوډا په داسې انداز زما د پورته تللو پوښتنه وکړه.ا يا دهغه به څه کار و؟-

ايا څه يې ويل غوښتل چې زما دلاروې ملګري له وجهې يې ونه ويل ؟ اوکه بله څه خبره وه - خو ما مې ملګری له وستل څخه واړاوه - هغه مې رخصت کړ اوله مخه ښې وروسته بيا په برو اوپاسنيو پولو کښته خواته په راتلو شوم -

دژمي وروستۍ شپې وې .په لمر کې لږه تودوخه پيدا شوې وه - غنم له خاورو را پورته شوي او دچا خبره دپښو زنګونو ته په را پورته کيدو کې و .دغنمو په منځ کې دشوتلو پټيو څو اوبه خښلې وې اواوس په کې چا اجازه نه درلوده چې له بيخه يې دسابو له پاره وباسي - ځينو خلکو په کې سرې اچولې اوځينو پرې اوبه سمولې -ويالې ښې پړندې اوډکې رواني وې -

دا مهال زه بيا دکلا مخې ته په رانږدې کېدو شوم - هلته وړاندې په ديره کې چې نيمه پيتاو اونيمه سيورې و.دوه قلبه يې غوايان ولاړ و - ديوه ښکرونه کاږه واږه اوديو بد اوشينه (بدماش) بنيادم په څير يې لومړی دسړي په ليدو يو تيز اسويلي له خولې ويستلو اوبيا به يې دعادت له مخې ارو مرو چې دګوزار په موخه سر نيغ پورته غورځاوه - دکلا په مخ کې جومات چې له

کلونو راهیسې ولاړو کله به یې ناوه بارانونو ارتولې وه او کله به هم جوړه وه. له ډیره وخته راهیسې اوس جومات نه خو نور ماشومانو ته د سبق او قاعدې د ښودلو ځای دی او نه هم په کې د جمعې لمونځ کیږي. یوازې بوډا او کوم لاروی په کې د ماسپښین لمونځ کوي. دا مهال له لیرې د بل کلي نا اشنا سپی اوریده لکی په ځان پسې راښکو دله د جومات دروازې مخې ته په ځوړ (کښته ) سر راورسیده. د کوربه ساتونکي لوې سپي پرې غړم لګول او بیرته د غویانو په ترهیدلو او له ځایونو ښخه په پاڅیدلو یې لکۍ په ځان پسې راښکوده او دلښتي له لارې وتښتیده.

زه هم د سپي د درانده غړم او غپ سره یو ځای د بوډا کټ ته ودریدم او د سر په خوځولو یې د کټ لنګي ته کښینا ستم.

©©©

د پورې کلي په کوزنۍ کلا کې د احمد خان دزوی ډیر مست واده و دا څو کاله یې ورته تیاری نیولې وه. له ډېرې مودې راهیسې یې ورته پسونه ساتلي و. احمد خان د کلي یاد او مالداره سړی و. په واده کې یې جوړې سازیان هم راوستي و د میرا او توکل په غزلو د غرنۍ درې د هوا مارغانو اتڼ کاوه کله چې به مجلس ودریدنو د کلي زلمو به د دیرې په اخواته پټې کې په ډېرې

غورځولـو اوغيږ نيولـو پيـل وکـړ .هـر يـو بـه خپـل زور ازمـايلو اودخوشاليو اومستيو اوساتـ تيريو بازارپه کې ښه تود و -

مير سلام خان ددي کلي له څښه ورو اومستو زلمو نه يو و.سره له دې چې واده يې درلـود خـو دکلي دګلابـې پـه نامـه پيغلـې يـار اودخلکو په ژبه جوړ درخانۍ او ادم خان وو - هغـه دکلي پـه يـو ه ښکلي پيغله ګلابه مين و - ګلابه چې مـور بـه يـې ورتـه دګلـۍ غـږ کاوه -دکلي ډيره ښکلي اوچتېه پيغله وه -

کله چې د ګلابې پلار ومړ نو تربرونو يې هغه يـوه بيـړا ( ګونګـه ) ته په نامه کړه -دا ځکه چې هغه له پلاره همدا يـوه لـور پـاتې وه, اوښه ښايسته پتې اوجايداد يې درلود-

خو داورځ په کلي کې دواده څه بل شان ورځ وه - ميرسلام دهر چا دسيل زلمې و - دنګه ونه رسا خيره او ښـکلی زلميتـوب يـې ددې جوګه وچې دمينې خبرې هم ورسره يو ځای شـي - هـر چـا بـه دهغـه لـه ليـدلو خونـد اخيسـت -اوځينـو بـه چـې ميرسـلام دډبـرې پـه غورځولو وليد نو په خپلو منځو کې به يې سره وويـل: دګلـۍ دې روزي شي. خومره به ښه وايي چې -------

خو که له یوې خوا به دراغلو کليوالو پرې زړه باغ باغ کيده نو له بلې خوا دګونګه ((کاکي ))تربرونو چې دهغه دمينې له داستانه خبرول په زړونوکې ورته وينې خوټيدلې -

دهغې ښکلا او دميرسلام زلميتوب داوخت دکليوالو په خوله لکه بوړبوکۍ نخيدله -

کله چې به ميرسلام دکلي دزلمو منځ ته شو نو دټولو ورميږونه به دهغه په لور ورکاږه شول -دواده هلک دټولو له خياله وتلی و -

خو ګونګه کاکی چې دا وخت له ښو اوبدو خبر نه وو .تربرونه اودتره زامن يې په هر څه اګاه و اوتل په دې فکر کې ول چې ددې رسوا مينې دپټولو له پاره څه چاره وکړي -

داحمد خان دزوی واده ښه په مستۍ روان و. واده دويمې ورځې اوبيا دريمې اوروستئ ورځې ته داخل شوی وو .

په کلي کې هغه مهال دا دودوو چې کله به خلک دډولۍ پسې ولاړل نو زلمو به دګټې غورځولو ،دخوسي دلوبو اودغيرې دنيولو لوبه کوله-همدا راز دنښې ويشتلو لوبه به يې هم کوله - داوار هم داسې وشول. دبارو تو ټوپکونه نوې رواج شوي و .ډيرو مستو زلمو خپل ښاروي ددې سياليو له پاره پلورلي اوټوپکې يې پرې رانيولې وې -زموږ کلي ته هم دا ټوپکې رارسيدلې وې

، مالدارو به دوه درې غواوې او څو وزې پلورلې او د باروتو ټوپک به يې پرې رانيوه -

د کاکي تره لا د مخه دا کار کړی و هر وخت به د باروتو د ټوپک سره ګرځيده خو نن يې په لاس کې هم نه وو نيولی - په دې ورځ يې خپل ټوپک خپل کوچني زوی ته په لاس ورکړی و - د پالې (منډې ) ډزې روانې شوې - هر چا به منډه اخيستله او د باروتو په ټوپک به يې نښه ويشتله . - څو تنو زلميو مخه وکړه .ډزې يې وکړې چا وويشتله او چا هم خطا کړه - د ميرسلام وار راغی - هغه ځان جوړاوه چې منډه واخلي او نښه وولي - ډيرو په زړه کې د ميرسلام د نښې ويشتل د هغه د مينې سره تړاو ورکاوه - چا به ورته په زړه کې دوعا وی کولې او چا به -- خو د زياتو کسانو دا پيرزو وه چې ميرسلام به ارو مرو نښه وولي - د ميرسلام په ليدو به زياتو خبرو کسانو ته د هغه مينه ګلا به هم سترګو ته دريده - خو د کاکي تره خپل کوچني زوی اختر د سترګو په اشاره تيار کړې و. ميرسلام منډه واخيسته د هغه له ډزه وروسته بل ډز هم پورته شو -

ميرسلام نښه وويشته او ميرسلام په نښه شو او وويشتل شو - ميرسلام يې دولو په منځ د منډې په حال کې وويشت. لکه غر راونړيد. ټول را پاڅيدل . دا چا ؟ دا چا ؟ غږ پورته شو.

کوچني اختر ! یو چا سم دواره په غیږ کې پورته کړ - په منت او قهر یې له ډګر نه وویست - او د خطا یې د ز غږ پورته شو -

همدا خبره ثو وار تکر شوه -

اختر ماشوم دی -

په خطا تری ټوپک خلاص شو .

خو خلک پوهیدل چې خبره څه ده ؟ او کیسه چیرته ده - د ډولۍ پر ځای جنازه له پټي پورته شوه او میرسلام یې په خپل کلي کور ننویست -

©©©

نو بابا څه خبره دې کوله ؟

نیکه غاړه صافه کړه - او پوښتنه یې وکړه - دا هلک چې له تاسره روان وو . څوک او د کوم ځای و ؟

بابا دا د کلام زوی دی - د بر کلي د کلام -

.نبه د میرسلام نمسی دی ؟

- نیکه یې نه پیژنم -

- بچیه زه یې ښه پیژنم. ته لکه چې زمو ږ له کیسو نه خبر نه یې -
یوه خبره درته کوم چې زما په پولو دمیرسلام تومنه مه گرځوه -
هغه به یو وخت نه یو وخت دنیکه قبر ته ودریږي - او په زوره زوره

به له قبر نه داختر دټوپک له لاسه دنیکه چیغه واوري -

لندن ۱۴-۴-۲۰۰۹

# عینکې او زاړه بوټان

مازدیګر چې له کاره ستړې ستومانه راغلم ، میرمنې مې راته څو
پاکټونه په مخ کې کیښودل او راته وی ویل : دا بیلونه باید
اورو مروسبا ته تحویل شې وخت پرې ډیر تیر دی داسې نه چې
جریمه شو ۰
ما وویل د څه بیلونه دي ؟
هغې وویل : - د برښنا ، د ګاز ، د تیلیفون او یو دوه نور ۰۰
له ما سره چې نه په جیب کې دومره پیسې وې او نه مې هم نوره
سپما درلوده حیران شوم او په دې فکر کې شوم چې که دا اندک
پیسې چې پټې مې ساتلې وې ،،،، په بیلونو کې ورکړم نو د
میاشتې تر پایه خو د خوراک له پاره څه نه لرم ۰ دولت هم دومره
څه نه راکوي چې زه پرې خپله چاره وکړم ۰ د ترجمانۍ له کاره خو
داسې څه نه جوړیږي چې د سړي پرې چاره وشي ۰
رښتیا درته ووایم چې په هغه مازدیګر مې ستړیا له یاده ووتله
او د بیلونو او کرایو فکر واخیستم ۰
په کټ کې ستونې ستاغ څملاستم ۰ بیا مې ورو ورو تیرو کارونو ته
پام شو ، لاس مې د میز روک ته اوږود کړ ۰ د ترجمانۍ سندونه
مې راواخیستل او له ځانه سره مې وشمارل ۰ ۱۰ نیټه ، دولسمه
نیټه ۱۵ نیټه بیا ۱۵ نیټه ۱۷ نیټه او د میاشتې تر پایه مې وشمارل

خو کله چې مې جمع کړل دومره پیسی تري نه جوړېدی چې زه
پرې خپل بیلونه پرې کړم٠ زه لا په دې فکر کې وم چې د تیلیفون
زنګ مې فکرونه پرې کړل٠ شیبه وروسته مې کوچنۍ لور له
لاندې منزل څخه د تیلیفون غوږۍ را وخیژوله ویل یې:
د((هارون الرشید )) په نامه یو ځوک دی په انګریزي خبرې کوي
٠ ته یې په کار یې٠
تیلیفون مې واخیست دهو په اواز سره هارون چې د ترجمانۍ
داداري مشر و راڅخه په جدي توګه وغوښتل چې سباته ارومرو
روغتون ته ولاړ شم او هلته دیوه ناروغ ترجماني وکړم:
هارون یو هندي مسلمان و چې نوی یې دژباړې له پاره یو دفتر
خلاص کړی و ،ما هم ورسره کار پیل کړي و٠ لږې پیسې یې
راکولې ،همدومره چې ما پرې خپل بیلونه پرې کول٠ خو هر
وخت به زما اودهغه په اجورې ورانه وه٠ هغه هم بل ځوک نه
پیژندل اوزما هم دومره بلد تیا نه وه چې چیرته بنه کار پیدا کړم٠
نو بس زه وم او هارون٠
نومورې دناروغ نوم اوپته راکړه اوویویل:
- کاکا عبید نومیږي ، هغه دعصبي ناروغانو په وارد(سرویس)
کې دی ، یو څه تکلیف لري ، هیڅ ترجمان له هغه سره ګوزاره نه
شي کولای- هیله ده چې له تا څخه خپه نه شي٠ هارون دا
سپارښتنه وکړه اودوخت اوپتې تینګار یې په بیا بیا سره وکړ٠
♥♥♥

سهار نهه بجې زه د لندن دیو لوی روغتون ساحې ته داخل شوم٠

دا روغتون لکه يو ښار ګوتی چې هر څه په کې وو ۰ اوبيا په
پوښتنو سره د يو ځانګړي وارد (سرويس) لويې دروازې ته
ودرېدم ۰ دروازه مې وټکوله ۰ پيره دار راغي ، د ساتونکو کالي
يې په ځان کې وو - داسې نه برېښېدل چې دادې ګوندي د روغتون
کومه برخه وي ۰ پيره دار لومړې يو لوی اوپيږ ځنځير له کونډې
وويست اوبيا يې د کلي ګانو يو لويې پنډ وکې څخه يوه لويه
کلي يوه پلن قلف ته ننويسته دروازه يې بيرته کړه او پر سريې
د مالوماتو د کوټې اشاره راته وکړه ۰ د مالوماتو کوټې ته ورغلم
خپله پيژند پاڼه مې وروښوده يوې څوکۍ ته يې د کښيناستلو له
پاره اشاره وکړه ۰ زه هلته په يوه څوکۍ کښيناستم ۰
په سالون کې نږدې لس پنځلس څوکۍ پرتې وې ، يو تلويزيون
هم مخامخ ايښی وو ۰ څو کسان هسې کښېته پورته کېدل ۰ ماته
يې برندې برندې کتل ۰ يو را نږدې شو ، په اوږه يې راته لاس
کيښود ، ته انسپيکتر يې ؟ ماوويل : نه زه ترجمان يم ۰
تيره شپه تياتر ته تللې وی ؟ ما ويل نه ۰
ډير احمق يې ؟
ما ويل :هو يم او ته ۰
-زه ددې بې عقلانو ښوونکی يم ۰
له ليرې ديوې نرسې پام شو ،راغله اوهغه يې له ما ليرې کړ ۰ ماته
يې وويل دلته له هر چا سره دخبرو حق نه لرئ اوبيا يې هغه
ليونی هم زما له څنګه ليرې کړ ۰
يو سړي لکه نرس اوهم لکه ساتونکی راغئ وې پوښتل :
ته دعبيد له پاره راغلي يې ؟ ما هو ورته وويل ۰

- ښه دلته کښېنه زه به دې ورولم . هغه په هغه بله کوټه کې دئ .
زه منتظر شوم . ښايسته زياته شېبه ناست ووم .
بيا يې را ته غږ کړ ، مستر اسلم ، درځه go there (هلته ولاړ شه)
زه پاڅېدم - په اوږده تنګ دهليز کې په بر سر کې يوې تنګې
کوټې ته ورغلم . يو سپين ږيرى خو دنګ سړى هلته په څوکۍ
ناست و ، را پاڅېد ، راته وي ويل ، ته افغان يې ، ما هو وکړه ؛
-را ځه کښېنه ،
کښېناستم . غوښتل مې خوله ورسره ګډه کړم او خپله ترجماني
په دې ډول اسانه کړم چې له کيسې يې خبر شم .

♥♥♥

هغه په يوه تنګه کوټه کې چې ايله دوه په دوه کې وه اچول شوى و
. په کوټه کې ايله بيله يو دخوب فلزي تخت چې زوړ او نخودي
خيرن توشک په کې پروت و ، سرته يې دوه بالښتونه او ښو ته
يې دوه زړې خړې کمپلې پرتې وې . دتخت سرته يوه زړه څوکۍ
ايښې وه او په مخ کې يې يو کوچنى ميز و چې يوه دچايو پياله،
داوبو بوتل او يو بشقاب پرې ځايېدل . په ديوال کې يو روک
(تاخچه )جوړه شوې وه چې يوه زړه دوسبه او يو څو قوطۍ درمل
او بوتلونه په کې ايښودل شوي و . دکاکا عينکې هم هلته پرتې
وې دعينکو له پوښ سره يو ځاى يو خودکار قلم او يوه کتابچه
هم ايښې وه . دکوټې په ليدو سره يو وار بيا زما په ذهن کې
ددهمزنګ زندان راژوندي شو . کله چې په څلوېښتمو کلونو کې

دکابل په یوه لیلیه ښوونځي کې وم، له یوه اخبار سره مې هم کار کاوه ۰ هلته به یو لوي سپاسي بندي ته ورتللم او دا خبار له پاره به مې ترې مقالې راوړلې ، دا سړې عبدالمالک خان د مالیې پخوانی وزیر و چې داود خان پرې په قهر شوی او په زندان کې یې دیو تومت له مخې اچولی و ۰ هغه یو ډیر پاک او ښکلی سړی و ۰ بونډه ږیره یې درلوده ، یوازې له هغه سره ږیرې ښه خوند کاوه ۰ لږې خبرې یې کولې ۰ دخپل سرنوشت نه اندیښمن نه وو ۰ په څیره کې یې وقار او غرور له ورایه بریښیده ۰۰ په خبرو کې یې متانت موجود وو ۰ دا سې چې په لږه شیبه ناسته کې سړي ته دوطن تاریخ او بیا په کې دده براءت بریښیده ۰ په خواکې به یې زیات کتابونه ایښې و ۰ داسې بریښیده چې زیات لوستل اولیکل کوي ۰ کله چې به زه ورغلم نو سم دواره به یې کښلې مقاله ماته راکړه او ویل به یې: ستا مقاله تیاره ده ۰
دکاکا عبید د کوټې لیدو ماته دد همزنګ هغه کوټه چې جګ چت یې درلود را تداعي کړه ۰ دهغې کوټې کړکۍ هم ډیره اوچته اودهر چا له قد نه جګه وه ۰
کاکا عبید اوس په داسې یوه کوټه کې اوسیده ۰ هغه څو وارې دې دهلیز ته راوړل شوی وخوداکترانو دا وار پتیيلې وه چې نور یې خوشې نه کړي ۰ په دې دلیل زه هم نه پوهیدم ۰
کاکا عبید په هر څه او هر چا شک کاوه ۰ هر څوک ورته دوه ډوله ښکاریده ۰ یو دهغه بیروني شخصیت او بل د سړي یا انسان دروني شخصیت ۰ خو کاکا عبید دلیدونکي سړي په درونې شخصیت یعنې اصلي کرکتر باندې خیال ساته چې ځان پټوي

اوهغه د انسان داصلي شخصيت اصلي اړخ وي. هغه په هر چا
کې دهغه شيطاني اوزيانمن بعد پياوړي ګاڼه. او په دې ډول يې
دا تصورات ان اوج ته رسولي و. دبدبيني احساس يې دوجود
اصلي برخه وه.
هغه لا په چرت کې و اوزه هم دهغه اکر ته ځير وم چې دروازه ټک
ټک شوه. يوه ځوانکۍ نرسه را ننوتله. يوه دوسيه يې په تاخچه
(روک) کې کېښوده او بيرته ووته. کاکا عبيد لومړی هغې ته
برندې برندې وکتل. اوبيا يې ماته وويل:

دا ګورې دا ((کنجره)) وينې دا نرسه نه ده. دا ددې له پاره چې
زما جاسوسي وکړي دهماغې غلې ښځې ملګرې ده چې ما په
پلورنځي کې په غلا ګير کړې وه او اوس دلته دا کتر مکرجي
پدر... استخدام کړې چې زما په باب رپوټ ورکړي اودشپې
ماته ستنې ووهي.

بيا يې پاس چت ته وکتل له ځانه سره يې په دري ژبه وويل: ((هر
چه بادا باد)). زه اوس فکر نه کوم زامن اولورګانې مې دې
ژوندي وي. زما زامن ډير ښه او تعليم يافته هلکان دي. په خپل
کار کې ډير لايق دي.
سره له دې چې کاکا عبيد په هر چا کې هر څه دوه ليدل. اوبيا يې
له هغه دوو څخه يوه ځانګړنه غوره کړې وه يعنې انسان ته دزيان
رسولو ځانګړنه، دمنافقت، ددروغو اوټګۍ ځانګړنه. او په
خپل اصلي کرکتر باندې دظواهرو پرده غوړول. خو دا داسې

ځانګړنه وه چې ده د خپل ځان له پاره هم غوره کړې وه او په روحیاتي لحاظ په داسې پړاو کې و ، چې په هیڅ ډول رښتیاوو یې باور نه درلود . د کورنۍ په یادولو خو به هغه دیو لوی بحران سره مخامخ شو . مخ به یې تک سور شو ، خوله به یې وچه شوه او بیا به یې غاړه صافه کړه او ډېرو لو زامنو او لورګانو او ښځې د مهربانۍ نه به یې ستاینه کوله . هغه به تل غوښتل چې خپل ناخوداګاه یا تحت شعور کنترول کړي او دې ته یې پرې نه ږدي چې د قضیې اصلي څه یې له خولې را ووزي .

یو وار په فکر کې شو پاس چت ته یې وکتل . او همداسې په فکر کې ولاړ . زما زوی ډیر لایق انجنیر دی . د انګلستا ن په جنوب کې دیوې انګریزې ملګرې سره ژوند کوي هر شیبه راته تیلیفون کوي . همدا یې له خولې ووتل .
د نرسی دوینا له مخې هیڅوک د ده پوښتنه نه کوي . ما ته د نرسې دا خبره او بیا د کاکا عبید دې وینا نوی خیال را ملګری کړ : او په تصوراتو کې خپل کلي ته ولاړم :
ښه مې په یاد دي کله چې زه داتو نهو کالو ووم . زموږ په کوچنې کلي کې یو بیوزلی بوډا اوسیده . هغه هیڅ مال او جایداد نه درلود . یوه ښځه او یو ماشوم زوی یې وو . تره مې ورته یوه کوټه ورکړې وه . د پټي یوه برخه چې څو متره اوږده تړانګه وه د ترکاریو د کرلو له پاره ورکړې وه . خو هغه د کار اوزیار هم نه وو . بلکې غله او دانه یې هم پر موږ حواله وه . هغه یوازې زموږ ګاونډی و . کومه خپلوي او رشته مو سره نه درلوده . یو وخت

هغه سخت ناروغه شو او بیا یې یوه شپه خپل روح حق ته وسپاره
. ښه مې په یاد دي کله چې سهار لمانځه وخت زما تره په زینه
راپورته شو نو سملاسي یې زما مورته وویل . خدای دې
وبخښي . خپل پور یې پرې کړ . او امانت یې خپل خاوند ته
وسپاره . زه حیران شوم خو ورسته وپوهیدم چې هغه ساه ورکړه
. دهغه دناروغۍ اوبیا دکفن اودفن ټولې چارې زما کاکا ګانو
وکړې . کاکا به مې ویل : دی زموږ ګانډی و . زموږ سیوري ته
پروت و . دده له موږ سره حق و . هغه یې په ډیر عزت خاورو ته
وسپاره . ښایسته غټ ختم او خیرات یې پسې وکړ . او په هدیره
کې یې ټولو خلکو ته وویل :
ما ددې بوډا خدمت اودده دمړې خدمت پر ځان فرض باله .
خو بیا ددې لوید یزې نړۍ او په تیره دانګلستان ژوند ته فکر
یوړم . کاکا عبید راته ودرید . ده ته مې بیا پام شو . ځکه دلته په
انګلستان کې چې پلار اومور بوډا شي نو (( نرسنګ هوم )) یې
ځای وي . نرسنګ هوم ، دبوډا ګانو لیلیه وي چې شپه اوورځ په
کې اوسي اوددولت یا کونسل له خوا یې پالنه کیږي . بختور
بوډا اوبوډۍ هغه وي چې زوی اولور یې پوښتنې ته ورشي هغه
هم درخصتیو په شپو کې . خو نور ځوک دچا په کیسه کې هم نه
وي .

رښتیا دوه کاله دمخه زما په چم ګاونډ کې یوه بوډۍ ښځه چې
لور یې (( نرسنګ هوم )) ته حواله کړې وه مړه شوه . ددغه بوډۍ
یکې یوه لور وه هغه هم شرقي ښځه وه زموږ دملک وه . خو کله

چې يې لورته د((نرسنگ هوم)) استازی ورغئ چې مور دې مړه شويده. نو هغه چې دواده پارټۍ ته خبره وه ځان يې ونه ښوده چې گوندې دا يې لور ده، استازي ته يې وويل: دبوډۍ لور په کورکې نشته سبا ته راځي درو به يې ليږم. دا ځکه چې دهغې پارټې بايد خرابه شوې نه وای. اودواده محفل پرې وران شوی نه وای.

خو کاکاعبيد له يوازې والي په تنگ راغلی و. ارومرو چې داسې صحنې به ورپه يادې شوې وې چې کله يې ماشوم زوی په کورکې پيدا شو نو څومره جشنونه اوسات تيری، ((شب شش))څرنگه چهله گريز، څرنگه او داسې نور به يې کړي وي.

ارومرو چې زوی به يې څومره په ناز را لوی کړی وي. هغه سهار به ورياديږي چې کله کاکا يونيفورم اغوستې و اوماشوم زوې يې په ټټر پورې کلک نيولی او په څمکه يې کښېنا ستو ته نه ورکاوه. نوبيا چې يې ساعت ته کتلي وي ارومرو چې ميرمنې ته به يې غږ کړی وي.چې ((شفيقه جان زوی دې وا خله په ما ناوخته کيږي)). اودماشوم په ورکولو به يې دخدای پامانی په لاس خوځولو له دروازې وتلی وي.

فکر مې کاوه چې کله کاکا عبيد داسې شيبې په ذهن کې راژوندۍ کوي اوداسې سوچونه کوي نو بيا به يې داروپا بې پروا ژوند ته فکر کيږي. اوسني حالت ته، چې بوډا دی، هيڅ متره يې په وجود کې نشته. ورځ په ورځ کمزوری کيږي. رواني بحران يې نور هم زياتيږي اودجنون تر پولي رسيږي.

دهغه له خولې چې هغه يو افسر وو دافغانستان داردو يو

پخوانی افسر ، دهغه په وینا چې په هوایي پوځ کې یې لویه دنده درلوده · په کابل کې دهستیِ اوشتو خاوند و · لویه کورنیِ یې شاته وه ،میرمن، زامن ،لورگاني اوکورنیِ یې په لندن اوجرمني کې دډیرو شتو اوجایدادونو خاوندان دي ، هیڅ شې ته اړه نه دئ ځکه چې دښه ژوند خاوند دی ·····

بیا یې له ما پوښتنه وکړه نوم دې څه دی؟

-نوم مې اسلم دی · دلته ترجماني کوم ، دیوې کمپنیِ سره ترجمان یم ،

-کله راغلی یې ؟

- دوه درې کاله کیږي ·

-پلار دې ژوندی دی ؟

- نه کاکا ما خپل پلار نه دی لیدلی ، زه یتیم را لوی شوی یم ·

بیا یې په خبره کې ورولویدم · ایا زامن دې پوښتنې ته راځي؟

په دې خبره لږ وارخطا غوندې شو · اوترا وتر یې وکتل· لکه چې دمخه یې فکر نه و کړي· هو !خو له دې ځایه لږ لیري اوسي · هر وخت نه شي راتلای ، په اونیِ کې یو وار·

-اومیرمن دې ؟

هغه هم دخپل زوی سره اوسیږي ،زه یوازې اوسم · زوی مې اروپایي میرمن لري اوښه دنده لري · دنده یې ډیره مهمه ده · هغه نه شې پریښودلای ،

ماته هم یوازې ژوند خوند راکوي · او بیا په سوچ کې ولاړ ·

په بیا بیا مې احساس کړله چې زما له پوښتنو سخت زوریږي ·

خو زما ناچاري وه زه په انگریزیِ دومره لاسبری نه ووم چې غیر

رسمي مسايل ښه ترجمه کړم. ما ځان پوهاوه. او کله چې د هغه وکيل دعوا راځي او يا غونډه کې پوښتنې کيږي نو بايد ښه وپوهيږم. بيا مې پوښتنه وکړه:
نو ته ولې دلته راغلی يې؟
-دا ځکه چې ما ديوه هندو ډاکټر خيانت په ډاګه کړی دی. هلته دښار په بله برخه کې يوه د سيف وی save way پلورنځی دی. هلته به يوې هندي ښځې هر وخت غلا کوله. ما دهغې رپوټ پوليسو ته ورکړ. پوليسو ماته دنده راکړې وه. ما هغه باالفعل په غلا کې ونيوله. خو هغې دې ډاکټر ته وويل. اودې ډاکټر زه دناروغ په نامه دلته بستر کړم. دوی بايد ما خوشې کړي. زه يو افسر يم ما په هوايي ځواک کې کار کړې دی.
بيا يې ديوال ته ګوته ونيوله.
وګوره هلته مې ډير څه ليکلي دي. دا ولوله چې بيا په غونډه کې داټکي ووايي؟
په دې کروکي( نقشه ) کې د پلورنځي دروازه په نخښه شويده. هغه ميرمنې به هر وخت له دې دروازې غلا کوله. اوما يې رپوټ ورکړ، اوزما صادقانه خدمت اوس ماته ددې سبب شو چې زه يې دناروغ په نوم دلته واچولم. هره ورځ ستنې راته وهي. بيا ګنګس پروت يم، ګولۍ راکوي په زور يې را باندې خوري.
اوبيا راته وايي چې ته ناروغ يې. ته وګوره ! زه جګ جوړ سړی يم. ته دوی ته ووايه زما کوم ځای ناجوړه دی.
زه دلته يوازې يم.
نو هلته له تا سره په کوټه کې نور څوک شته؟

نه څوک نشته٠ زه نه غواړم څوک ووینم٠
زوی اولور دې راځي ؟
لږ په غصه شو٠ مخ يې راواړاوه٠ راته يي وويل:
((په دې ملک کې څوک له چا نه شخصي پوښتنې نه کوي٠ دا زما کار دی ))
خو هغه په یوه ټکي ټینګار کاوه او همدومره يي ویل (( زه دې هندو ډاکټر مکرجي بندي کړی یم. زه روغ رمټ یم٠ ته به سمه ترجماني کوې٠ ابله ورځ يو بل افغان زما خبرې نه ترجمه کولې٠ نو له کوټې مې ویوست، او ورته ومې ویل چې دا افغان هم دهندو نوکر دی٠ دا سمه ترجمه نه کوي٠ دا مې نه دې په کار٠ که غواړې، نو زه چې څه وایم ټکي په ټکي به يي ترجمه کوئ٠ ))
په هغه ورځ مې څه ساده اړتیاوې ورته رفع کړې څه پوښتنې چې يې لازم وی ورته ځواب کړې٠ او ترې رخصت شوم٠ قاعده داوه چې دبلې ورځې له پاره يې را ته وخت وټاکه چې ارومرو به راځې او دکاکا عبید ترجماني به کوې٠
خو زه پوه شوم چې کاکا عبيد جدي ستونزه لري٠ هغه دجدي خپګان سره مخامخ دی٠ له کورنۍ لیرې شوی٠ له لورګانو زامنو او ان له ښځې لیرې شوی او هغوی نه غواړي له ده سره رابطه ولري٠ څو واري يې پریکړه کړې چې ځان دیو لوړ تعمیر څخه را وغورځوي٠ خو ګاونډیانو یې مخ نیوی کړی اوژوندی پاتې شوی دی٠ اوبیا يې پولیسو ته احوال ورکړی چې روغتون ته يې بوځي٠

هغه مهال دروغتون په کړو وړو دهلیزونو کې دروغتون لويي دروازې ته راورسيدم . ډېر زيات وخت ان ځو ساعته مې دننه په تورتمو دهليزونو اوکتو کې تير کړي وو، دبيرون درڼا په ليدو مې سترګې وبريښيدى . رڼا بيا هم دومره نه وه . تورې وريځې ټول اسمان نيولى و . يو ډول لوند او دپرخې دليرد نه ډک باد لګيده ، موټرو ځراغونه لګولي وو . زيات کسان او دنا روغانو خپل خپلوان دروغتون له مخې تللي و . ځمکه هم توره بريښيده او پاس اسمان هم تور ، يوازې دموټرو مصنوعي رڼا وه چې هغه هم په سترګو بده لګيده ،خو پوره لا ماښام شوى نه وو .

زه لا دروغتون لويي دروازې ته په رارسيدو کې وم چې په مبايل مې زنګ راغئ. دا وار مې کاکا وو . له ښې ګړې بړې وروسته يې را ته وويل خداى دې وکړي چې مور دې هير نه و . لوى اختر رانږدې دي . قربانى ته هيڅ مال نه لرو . بايد قرباني وکړم . په ما فرض ده .بايد يو څه چاره وکې . ما ورته ښه وکړل او و مې پوښتلو

کاکا جانه څه ډول قرباني کوى ؟

- قرباني څه ډول وي؟ ته لکه چې اوس لندني شوي يې ؟ ، په ټوکه يې وويل چې داسې قرباني چې زه او ادې دې دواړه په پل صراط سواره تيرشو .

-ما ورته وويل: کاکا نو بيا خو قچر ډير ښه دی ؟( په ټوکه )
- لعينه ! په قچر کله قرباني کيږي / نو بيا مې وچيږلو : نو په څه شي کيږي. هغه بيا خبره راغبرګه کړه. قرباني په حلال مال کيږي . په خره او قچر خو نه کيږي، په غوايي ، په پسه، او په وزه کيږي . ته لکه چې اوس پرنګی شوي که څنګه ؟ وطن دې هيرکه؟

نور مې ونه چيړه ، او وعده مې ورکړه چې اور ومرو به يو څه برابر کړم.
چې په پل صراط کې بې براقه او پلی پاتې نه شي.
کاکا مې ښه سړې و. پلار مې دې خدای وبخښې. کله چې ومړ ، يوه مياشت وروسته يې زما له مور سره نکاح وکړه ، او مور يوه خور او وورور و خو بيا د کاکا په سېورې کې رالوي شولو. ما خپل پلار ونه ليده. وايي چې هغه هم ښه سړې و. خو اوس دا مور ته د پلار په ځای و. دمکتب په لوستلو کې به يې پر ما ډير ټينګار کاوه خو زما خور يې په کوچنيوالي کې په بدو کې ورکړه ان داسي مې اوريدلي دي چې په ديرش زره افغانيو يې وپلورله. او پيسي يې له هغه چا واخيستې چې د هغه په سر کې يې په بدو کې ورکړې وه. اوس زه هم نه پوهيږم چې زما هغه ايکي يوه خور به چيرته وي ؟
د کاکا تيليفون مې يو وار بيا د ګاز او برښنا او تيليفون بيلونه را ته مخکې کيښودل. او زما د حيرانتيا سببونه يې نور هم زيات کړل. کاکا عبيد مې له ياده ووت. يوازې د کاکا په فکر کې شوم. د کاکا قرباني پر ما فرض ده. بيلونه او بيا زما د ميرمنې ټينګار

۰

♥♥♥

دغونډو په کوټه کې لوی میز ایښی و ۰ مشر ډاکټر مخامخ ناست
و ، په ننوتولو سره یې پر ماته څوکۍ ماته د کښېنا ستلو
سرو خوځاوه ۰ داسې پوه شوم چې هغه یو رواني طبیب دی ، په
دې وارد کې ډېرو ناروغانو معالج دی ۰ خواوشاه یې نور
مسوول کسان ناست وو ۰نرسان او مرستندویه خدماتي کسان هم
و۰ یوه ښځه چې تل یې د کاکا عبید پرستاري کوله سره و پسېدل
۰ ډاکټر وپوښتل:
کاکا عبید روغتیا دې څنګه ده ؟
کاکا عبید په جدی لهجه ځواب ورکړ:
-زه خو کومه ناروغي نه لرم۰ ما پرېږدئ چې خپلو اولادونو
او کورنی ته ولاړ شم۰ تاسو ولې زه بندې کړی یم۰؟

بیا یې په په قهر ترجما ن ته کړل:

ترجمانه دا ورته ترجمه کړه

خو داکتر او ما د هغه په خبره او غوسه کوم سر ونه ګراوه داکتر
وویل:
داوو ایه چې درمل دې خورې ؟
زه درملو ته اړه نه لرم۰ زه جګ روغ یم۰زه ناروغ نه یم۰

خوب دې شته کنه؟

زه نه غواړم خوب وکړم ځکه که خوب وکړم دا ستا هندوان دا ټول دوکانونه غلا کوي. زه دنده لرم چې ددوی ساتنه وکړم. ما ته پولیسو دنده راکړې او ما هیڅکله په خپله دنده کې غفلت نه دی کړی او اوس یې هم نه کوم.

کوم دوکانونه؟

دا بهر. دا سیف وی، پلورنځی او دا نور....

-څوک یې غلا کوي؟

-تاسي هندوان یې غلا کوئ؟

مخ یې ماته راواړاوه:

دا ورته ترجمه کړه.

ماترجمه کړې خو داکتر مې وپوهاوه چې دې ټینګار کوي.

اوبدې ردې زه نه شم ترجمه کولی.

کاکا عبید په قهر شو. له څو خبرو وروسته او دهماغه یکنواخته خبرو دتکرار وروسته پاځید. او له کوټې ووت، ساتونکی ورسره سم پاځید.

داکتر وویل: دده (دیپریشن) نور هم ډیر زیات شوی دئ. د شپې خوب نه لري نرسې تایید کړه: ټوله شپه په کوټه کې ګرځي او له

ځانه سره خبري کوي د اسې مالومېږي چې خپلو زامنو ، لور او میرمنې ته بدې ردې وایي ۰ دی یو ازې دئ ۰ کورنۍ ورسره رابطه نه نیسي ۰ څو وارې مو دهغه زوی او میرمنې ته تیلیفون وکړ ۰ زوی یې وویل زه خپل جاب (دنده ) نه شم پرېښودلی او میرمن یې وویل دی لیونی دی ۰ نه غواړم ورسره ووینم ۰ زه خپل کار کوم ۰ اودی خپل کار ۰

یو وار یې لور راغله چې جامې یې پرېمنځلو ته یوسي ۰ خو ده په ناوړه چلند له کوټې وویستله ۰ ورته وې ویل : زما نفر خدمت شته ۰ هغه راځي اوزما جامې پرې مینځي ۰ پیره دا رته یې غږ وکړ ۰دا زه نه پیژنم دا راغلې چې زما پیسې غلا کړي ، زه دا نه پیژنم ۰ هغه هم ووتله اوبیا څوک مالوم نه شول ۰

زه بیا څو وارې دهغه ترجمانی ته ورغلم څو وارې مې میوه او ځینې شیان سپین کاغذونه اویوه نیمه کتابچه له ځانه سره یووړل چې خوایې بده نه شي اوخبرې راسره وکړي ۰ خو بیا ډیر وخت زه دغه دندې ته چا ونه غوښتلم ۰

♥♥♥

څو میاشتې وروسته کله چې زه دیوه بل افغان سره دمرستې اودهغه دخبرو دترجمې له پاره هماغه وارد ته ورغلم ۰او په

هماغه شان وارد ته ورننوتم هيله مې درلوده چې کاکا عبيد به هم ووينم ۰
ما سر له واره د هماغه نرسې نه وپوښتل کاکا عبيد ؟
هغې وويل: ولې ته خبر نه يې ؟
-له روغتون نه رخصت شوی دی.
-هو رخصت شوی دی ۰ خو ،
-نو چيرته ولاړ ؟
هغه ډير قوي ديپريشن درلود ۰ پر هر چا شکمن وو ۰ له دې کبله يې لور هم نوره رانغله ۰ ميرمن يې لا د مخه ترې لاسونه مينځلي و ۰ زوی يې هم ځان ډير مصروف ښوده ۰
يو ه شپه هغه ډير ناارامه وو۰
سهار خاموشي وه ۰ زه د هغه کوټې ته ورغلم ۰ دروازه مې په سختۍ بيرته کړه ۰کاکا عبيد د دروازې خوا کې پروت و ۰ هغه مې وخوځاوه ۰ دانکل انکل (کاکا,کاکا ) غږ مې پرې وکړ ۰ خو په هغه کې ساه نه وه ۰ بيا مې هم وخوځاوه ۰ غږ يې نه خاته ۰ وروله کوټې راووتم وبوگنيدم ۰ اوبيا مې دوارد مشر داکتر ته خبر ورکړ چې ۰۰
-نو د هغه اقارب راغلل ۰ ؟
نه هيڅوک هغوی ځان ناخبره واچاوه ۰ هيڅوک را نه غلل ۰ زوی لور ، اوميرمن يې هم تراوسه لا منتظر يو چې څوک به يې پوښتنه

وکړي دلته یې یوه جوړه زاړه کالي عینکې اوزاړه بوټان په دې
پلاستیک خلطه کې پاتې دي دهغه یوه ننښه ده ،چې که څوک
راشي وربه یې کړم.

- نو مړی یې؟

- دهغه مړی مو کونسل (ښاروالۍ) ته وسپاره او کونسل یې
بندوبست وکړ.

په خواشینۍ دنرسې له خوا را لیرې شوم. داوار مې بیلونه
او دکاکا قربانې هم له یاده ووتله. اویوازې دکونسل په فکر کې
شوم-

۲۳نومبر ۲۰۰۸ کال لندن-.

# سرې منګولې

هغه په کړوپه ملا له ځوکۍ پاځیده او دکوټې له کړکۍ یې بهر ته وکتل. اسمان په تورو وریځو اخیړ و. دمنې باد دشمال له لورې دمنې زیړې پاڼې دبې خاونده رمې په څیر د کور په مخ ته په پلی لاره په مخه کړې وې. بیا یې کړکۍ پورې کړه.دباد اویخنۍ په احساس یې وجود وبو ګنید .دځنګلو وینبتان یې زیږه شول. خپلې سترګې یې له کړکۍ راواړولې او دمیز له سره یې خپلې سترګۍ راواخیستې اوبیا په ځوکۍ کښیناست.

له ځانه سره په خبرو شو ۰ دا څه وشول ؟ هیڅوک داسې نه کوي. ما نو ولې داسې کار وکړ؟ ما خو لوی جنایت وکړ. ما خو نه غوښتل جنایت وکړم- اوس څه وکړم؟ اه زه اوس څه خاورې پر سر باد کړم. بیا له خپله ځانه سره دلیوني په څیر په خبرو شو اوله لږ ارام وروسته د پوهنځي دوخت او دخپلې زده کړې ددوران شیبې یې په ذهن کې را ژوندۍ شوې !

***

يوه ورځ استاد درس وركاوه چې دټولګي ددروازې ،يوه اړخ ته ځوك ودريد . او دلاس په خوځولو يې جاويد ته اشاره وكړه . خو جاويد نه شواى كولى چې د استاد له اجازې پرته پاڅيږي. بهر هلك لږ څه نور هم تم شو . استاد دجاويد په ناارامۍ لږ څه شكمن شو . استاد مخ توري تختې ته واړاوه اوځان يې د لكچر په پاتې برخه مشغول كړ. جاويد په خپل ځاى كې ناست او په وار وار يې ساعت ته كتل . د سات خلاصيدو ته لس منټه پاتې و. خو ساتډير اوږود شو. لس لكه شل اولكه ديرش منټه شو . خو استاد د جاويد په ناارامۍ پوه شو او د سترګو په كتو يې ورته دوتلو اجازت وركړ چې له ټولګي بهر شي. هغه له ټولګي ووت .انور د دهليز په بر سر كې ولاړ و دهغه ملګرى و چې نوى او تازه له كلي راغلى و . په چابكو قدمونو دزلمي لور ته ورغى او له روغبړ وروسته انور له جيبه يو پاكټ راوويست. جاويد ته يې وركړ.له لږو خبرو ، احوال او جوړ په خير وروسته دواړه سره جلا شول. جاويد اوترو. له ځانه سره وبوګنيد : په كاغذ كې به څه وي؟ ژر يې بايد ولولم. ارومرو چې كوم ښه زيرى به وي؟ ارو مرو چې ښه زيرى دى. زه سهار هم له خوبه په خوشالۍ راپاڅيد م. اكر مې ښه وو .

هغـه لـه دهليـزه ووت. ليـري ددیـوال شـاته تيرشـو ۰' دیـوال تـه پـه تکیه سره کښیناست . خپـل درسي کتابونـه يې پـه غيـږ کې سم کـړل اوبيـا يې لـه جيبـه همـا غـه کاغـذ راوويسـت .مـوريې ورتـه کـوچنی کاغذ راليږی و . لـه دوعـا وسلام ، ددوعـاګـانو اودښې ورځی دليوالتيا له ځرګندولو ورسته يې ورته يو زيری ورکړی و :

((په خواشينۍ درږته وايم چې بيا هم خدای تاته يو ه لـور درکړه. دخدای راکړه ده. موږ ډير ليوال و چې زوی به دي وشي خو دا هم شکر دی. روغتيا يي ښه ده )) . جاويد دکرښو پـه لوستلو حيـران شو . دمور ذهنيت ته اوخپلو هيلو ته فکرونو په مخه واخيست..

هسې خو هم پـه کليـو کې دلـور اوزوی دپيدا ينښت پـر مهـال پـه کورنيو کې د ماشومانو پـه هرکلي کې ډيـر تـوپيـر وي. کلـه چې هلک وزيږي نو کور خوشاليو پر سر اخيستی وي. اوچې نجلۍ وزيږي نو بيا نه خو ځوک دمور په کيسه کې وي اونه هم دماشوم .

جاويد لږه شيبه دفکرونو پـه سمندر کې ډوب شـو خپلـه زده کـړه اوماحول ورته ودريد.نه !نه((زما مور پـه سمه نـه ده ! زه بـه خپلـه لور ډيره ښه وروزم. هغه به ډاکتره، ښوونکې اويـا انجنيـره شـي ! هغه به ښې زده کړې وکړي. هغـه بـه هيڅکلـه ديـوې کليـوالې پـه

توگه چې يوازې دکور ښځه وي پاتې نه شي. لور او زوی ماته هيڅ توپير نه لري. نه !نه !زما مور په حقه نه ده !))

د هغه ذهن او فکر ټول له همدی خبرو جوړ و. لکه د رمو شپول يې له ذهنه دا جګړه را چاپير وه. هغه له ځانه سره په کلک بحث اخته و. دغه نانداری دهغه او دهغه د ذهن ترمنځ رواني وې٠ سره له دې چې په با خبره او شعوري توګه هغه د مور له خبرو سره جدې ناپخلاينه غوښته٠ خو دجاويد دفکر ريښې هم په سنت او دود کې وی او دهغه دلاشعور ځخه هم ددود يرغل دوام درلود٠

جاويد يو وار بيا شاوخوا ته پام وکړ. ځان يې را سم کړ. راپورته شو. له يوې دروني شخړې سره راپورته شو.داسې چې دود او سنت له يوې خوا او دهغه شعور له بلې خوا ديو بل په وړاندي سنګرونه نيولي وي.

يوه شيبه وروسته دديوال له څنګه راپاڅيد٬بيرته د ټولګي په لور روان شو. ټولګي ته ننووت. بل استاد درس پيل کړي و. او په خپله څوکۍ کښيناست.

***

دکړکۍ له بندولو وروسته بيا په کټ کې ستونې ستاغ پريووت. له کوټې بهر يخ او ساړه باد چنګاری کاوه. بيا راپورته شو. زړه

يي صبر نه شو . کړکۍ يي خلاصه کړه ـ سر يي کوږ کړ ـ کښته پورته يي وکتل . هيڅ څوک کښته او پورته نه بريښيدل . لا حول يي له ځان سره وويل . بهر خو هيڅ څوک نشته ولې څوک نه راځي؟ ولې اوس زما پوښتنه څوک نه کوي؟ ولې اوولې ؟

بيا يي په لړزيدلو ګوتو قلم ته لاس کړ . کتابچه يي بيرته کړه . غوښتل يي يو څه وليکي

په وجود کې يي دننه پټ او مرموز ځواک پر هغه فشار راووست او له ځانه سره يې وويل:

تا څه وکړه ؟ چې څه دې کړي وي هماغه وليکه ! رښتيا وليکه . بيا يي پر سترګو توره پرده راغله اوله ځانه سره په يوه ناپايه تصور کې ډوب شو .

***

وړانګه ان له کوچنيوالي اودخاپوړو له وخته هوښياره اوزيرکه وه . په ډيره لږه خبره پوهيده . دپلار اومور دواړو له پاره تل دبري اونيکمرغۍ نښه وه . دواړو غوښتل چې وړانګه ښه سبق وواييي

ښوونکي شي، ډاکتره شي. او که خدای کول ډير څه به زده کړي.

په ښوونځي کې شامله شوه. له ډيرې ويرې او ترهې به تل يو بل ځا له لاسه نيولې او ټولګي ته به يې بيوله. تر ډيره وخته يې نه شول کولای يوازې ټولګي ته ولاړه شي.

يوه ورځ په يوه کورني محفل کې چې ساز او سندرو فضا توده کړې وه. ورو وړاندې شوه. لومړی يې دارموني پردو ته وکتل اوبيا يې د هنرمند خولې ته وکتل. هغه لاکوچنی وه خو کله چې د سندرغاړې ميرمن پام شو هغې شونډې رپولې او سندره يې زمزمه کوله. سندرغاړې ورته اشارت وکړ. اوبيا يې ورته وويل:

ښه وو ايه.

هغې د سندرغاړې سره دا سندره پيل کړه.

مسته ملنګه دې کړم ژوند پورې تنګه دې کړم.....

په کوټه کې ناست خلک هک حيران شول. هغې په داسې انداز سره د سندرې سر تاو کړ لکه چې په شپو شپو يې تمرين کړی وي. دوړانګي د سندرو ويلو استعداد ټول ناست کسان هک پک کړل. خو له هغه وروسته يې مور و پلار تل د سترګو لاندې ځارله

اودرسونو ته يې متوجه کوله. هغې دومره درس نه وايه خو په ټولګې کې يې له هر چا زياتې نمرې اخيستې. هغې له هنر سره بې شانه زياته مينه درلوده. تل به دراديو دراماو سندرو ته فکر وړې وه.

په رالويدلو سره يې هڅه وکړه دراديولاره ونيسي ' دتياتر اوهنر لاره ونيسي .دفلم لاره خپله کړي. خو پلار يې نه غوښتل چې لور يې هنرمنده شي. ځکه هنرمند کيدل دهغوی په چم ګاونډ کې منع اوله دوده وتلی کار و . دهغې دکورنۍ ريښې په دود او سنت کې وی٠ نه يې شول کولای ددغه جال څخه ځان وژغوري٠

خو دوړانګي په راپورته کيدلو اولويدلو سره دهغې کورد نوي اوعصري زده کړو اوکليوالي ذهنيت ترمنځ دټکر ميدان وګرځيد .پلار يې تل دکلي کور 'پلار 'مور 'نيکه اوقوم کيسه کوله خو دوړانګې له پاره دا خبرې څه نا اشنا افسانې بريښيدې، اوپر هغو يې سرنه خوږولو . هغې هغه څه چې په خپل نسل کې يې ليدل دخپل اکر اوعادت جز ګرځاوه. دهغې اودکورنې ترمنځ جګړې کلونه دوام وکړ. دا لکه دناپيژندل شوي هنرمند دسراسري شهرت خاونده شوه. هغه ورځ په ياد ورغله چې له پلار سره يې په دې باب دليل وايه :

-لوري پښتنواله ښځو ته د سندرو او په فلم کې د کار اجازه نه ورکوي،

-پلار جانه. پښتنوالي ته سلام. خو زما زده کړه زما پانګه ده ، اوزه باید دزده کړې نه ګټه واخلم. زه کوم بد کار نه کوم. زه یې خلکو ته ښایم چې په ښځو کې د میړونو په پرتله ډیر څه شته چې کولی یې شي

-دا سمه ده. خو زما د پلار نیکه شمله به څنګه شي ؟

- پلاره ښځه هم انسان دی، حق لري. که دا حق لري چې ماشوم لو یوي. نو دا حق هم ورکړه چې ماشوم ته په لاره باندې د تللو زده کړه او په خلکو کې د ناستې ولاړې له پاره هم څه وروښایي .

-- ددې یې پر تا څه ؟

- دیو انسان په خیر دنده لرم چې خپل نقش ولرم.خلک باید وپوهیږي چې ښځه هم وس لری اود سترو کارونو د کولو جوګه کیدای شي.
- ګوره دود اودستور به څنګه شي او خلک به څه ووایې چې دزمانخان لور اودفتح خان لمسۍ اودخانانو کهول اوس په ډمتوب لاس پوري کړي دی ۰
- پلاره ! دا خبره ډیره اوږده ده ۰ په دې کې شرم نشته ۰ پښتانه نارینه په اوجره کې پخپله سندري وایې ۰ خانان یې

دنورو له سندرو ویلو خوند اخلي خو پخپله يې نه وايي. دهغوئ هنر خوښيږي خو پخپله يې زده کړي ته نه ورنږدې کيږي. دا ځکه چې هغو دخپل ذوق اوعاطفي سره هم دروغ وايي. اوصادق نه دي اوچې صادق نه دی نو زه به څه ووايم دخلکو خبري ماته دهنر په وړاندې......

***

جاوید په کټ کې په ډډه واوښت. دپښو لاندې تلو يې سستي وکړه یووار يې په ځغلند نظر دوړانګې دژوندانه دماشومتوب اوځوانۍ شيبې له پامه تیرې کړې. هغه شیبه په یاد ورغله چې کله به یې کتاب لوست، نو ماشومه به يې کلکه دکټ پښې پورې وتړله. اوبیا يې هغه دسندرو شیبه ذهن ته ورتداعي شوه. اوبیا يې په غوږونو کې دهغې چیغو اوژړاوو داوښکو نیزونو ځای ونیو.

پلار جانه ! لږه ما په همدې کوټه کې پریږده ما یوه شیبه ساه ویستلو ته پریږده زه چیرته نه ځم. زه همدلته له تاسره پاتې کیږم. ما دپلار اومور له مینې مه بې برخې کوه. ما له ځانه مه شړې. ما له دې کوره مه باسه.هنر ګناه نه ده. کارکول جرم نه دی. زه انسانه یم. او زما انسانیت،ازادی له دود نه مه قرباني کوه.

--نه !نه ! ددې کور د پرېښدو نه يي تا سنت اودود تر پښو لاندې کړی دی. تا هر څه په لغته وهلي دي. ته زما څه نه يي.

او بيا هغه لکه يو کلنه ماشومه په پښو کې ورپرېوتله. کوچنۍ شوه دومره کوچنۍ چې درېدلای نه شوه او د خاپوړو په وسيله د کټ بازو ته ودريده. بيا يې هم زاري وکړې. زه نه ځم ما له دې ځايه مه شړې. پر ما رحم وکړئ.

له مټ نه يې ونيوله. سپکه په لاس کې را پورته شوه. بهر گوزار شوه. او بيا لکه يو عظيم انسان په لوړ قامت ودريده. په کټ کټ يې ((لکه ليونۍ چې پخپله ماضي خاندي او يا خپل مستقبل له ياده باسي فکر پری نه کوي يا داسی لکه چې د تير او راتلونکي زمانې نښلونه سره پرېکوي او په کټ کټ خندا لکه ليونۍ وايي: زه نه مرم. خو ته اوس د خپل جنايت سره ملگری گرځه ! ستا د خبرو او ستا د مشورو ملگري ستا جنايت او ستا بې رحمي )).

****

جاويد سر را پورته کوي او له ځانه سره وايې . اخ دا څه وشول ؟

ما خو دنورو پورې خندل. زه ولې داسې دداسې جنایت جوګه شم
. دا خو انسانیت نه دی٠ ما خو نه غوښتل چې جنایت وکړم. ولې
اوس زما لاسونه سره شول. ناڅاپه لاسونو ته ګوري٠ خپل
لاسونه سره ویني٠ داسې چې ویني ترې څاڅي٠اوله ځانه سره
وایې:

. ګوره دا خو زما دوینو بوی دی. دا خو زما زړه دی. زما دزړه
وینې دي. دا ولې ؟هغه په خپل ټول ځان درد احساسوي اوله
ځانه سره وایې:

دا خو ما ځان وژلې دئ اودځان وژنه خو ګناه ده. نو ولې ما ځان
وژلی دی؟.په چیغو وایې: ای خلکو ما مه خښوئ٬ ما ګناه کړې
ده. زه نوره بله دونیا هم نه لرم. زما ځای په ځمکه کې نشته.ما
ګناه کړې ده. ما ځان وژلی دی. ما خپل زړه له خپل ټټر نه
راویستلی دی او دادی تاسو ته یې ښایم. دادی دا وګورئ
دا.دا..هان...دغه دی. اوبیا سرد سوک په ښوولو همداسې
پړمخې په ځمکه لویږي. !!!

۰۸-۱-۱۴لندن

# ترهه په تنونو کې

زه چې ماشوم وم له مارانو به ویریدم - له لړمانانو به ویریدم
او بیا چې لږ په خبره پوه شوم نو په هوجره کې به مې د مشرانو
کیسو ته ښه پوره غوږ ایښی وو - د هغو خبرې به مې اوریدلې -
چې کومه کیسه به په کې د ډار او ترهې وه نو ځان به مې راټول کړ -
ښه به کوچنی شوم - غوږ به مې زیږ شو - او په خوله کې به مې
لاړې هم وچې شوې -

کله چې به زموږ په هوجره کې د کوم کیسه مار شپه شوه نو گرد
گرد به ترې تاویدم او د هغه شیبې په انتظار به ووم چې کله به
کیسه پیل کوي - زما کاکا دې خدای وبخښي هغه به د خپل
عسکرۍ خدمت او دا چې خپل ټولې مشر یې ((خدای خبر)) په
ښیرۍ وهلې وو کیسه په دوه ساعتونو کې خلاصوله - د رښتیا
او نه رښتیا نه یې خدای خبر وو - خو د ډار په کیسو کې به یې ځان
ډېر باتور او زړه ور ښوده - په اول سر کې به مې د هغه د زړورتوب
نه خوند اخیست، خو اوس پوهیږم چې هغه هم خپله ویره په دې
لاړ پو کې پټوله -

رښتیا خبره مې د ترهې او ډار کوله - کله چې به مشرانو کیسې
کولې نو داسې کیسې به وې چې گوره فلانی چې له غره نه

راروان شو ، نو په لاره کې پرې توره شپه شوه او په تورتم کې پرې بلا وربرابره شوه - یا دا چې زموږ د کلي شین ګل کاکا چې یوه شپه بیل په اوږه وو او په پټو یې اوبه سمې کړې وې ، نو په هدیره برابر شو یوه ښځه یې ولیده چې د یوه تازه مړي قبر یې کیندلی او دهغه په ګیډه اوږه اغږي ،هغه یعنې شین ګل کاکا بیا هغه ښځه چې په بلا بدلیدله د شاه له خوا له کوڅیو نیولې او توبه ګاره کړې وه - دا کیسه چې به مې واوریدله نو په زړه کې به مې وویل :یره که شین ګل کاکا په کلي کې نه وي ، نو موږ به څه کوو؟

دا سې کیسې هم وې چې کله بازمیر شپون په توره شپه ګډې کلا ته راوستلې نو په لاره کې له بلا سره مخامخ شو دهغه په ولې یې لاس کیښود اوهماغه یې زړه ودرید - دې ډول ټولو کیسو به زه هم اوتر کړم - حیران به شوم اوپه کلي کې به مې دزړورو اوباتورو کسانو سره مینه پیدا شوه اویا به مې داسې وانګیرله چې کاشکې زه هم داسې زړور وای چې له بلا ګانو مې خلک ژغورلي وای -

ښه لا دا چې یو وخت ماشوم ووم چې پلار به مې دلویې کلا دروازې ته ددوښمنانو له ډاره غټ کلف اچاوه او کیلي به یې دکوټې په ستنه کې زوړندوله - مور مې په هغه شپه څو وارې

ماښام مهال له کوټې ووتله اوبيا رانه‌نوتله او همدا يې ويل چې خپل زوی ته( زما مشر وروړ ته ) سودا وړې يم- په ځان يې ماښام کړ او ترا وسه رانغی؟

شپه پخه شوه مور ټول ويده شو- نيمه شپه د دروازې ټنبه په کانې ووهل شوه - پلار مې ژر پاڅيد - مور مې د خدايه خير کې !غږوکه -زه هم را ويښ شوم له ويرې او ډاره مې خولې کړې وې - هغه دروازې ته ورغی - د څوک له غږ سره يې ځواب وا وريد - مور يو خپل - بيا يې د اواز په پيژندلو سره دروازه بيرته کړه - زمور يو خپلوان مې د وړور سره په ملتيا راغی -

کورته رانه‌نوتل - ټول کښيناستل - زما وړور خبرې نه شوی کولی - په خوله ګونګ شوی وو - خپلوان وويل - د دروازې له درب سره راووتم چې دی په دروازه کې پروت وو - راپورته مې کړ - تود مې کړ ژامې يې کړچيدلې اودادی رامې ووست - دې په لاره کې ويريدلی وو - ټوپک هم ورسره وو- خو کله چې پر ځان پوه شو او په خبرو راغی ، نوبيا زما وړور کيسه کړه :

زه په توره شپه کې چې سپوږمۍ هم پريوتې وه رارو ان ووم - د شاه له خوا د پښو کړپهار شو ، ما پام وکړ - يو سړی مې مخې ته ودريد - اوبيا اوږود شو ، ډير دنګ شو او له پاسه يې لاس را کښته کړ ، غوښتل يې چې زما ستونی خپه کړي زه بيا په ځان پوه

نه شوم یوه غټه چیغه مې له خولې ووتله - اوبیا ددې کاکا دوې (راغلي خپلوان ته یې اشاره وه) دکلا په مخ کې پریوتم -

دې کیسې هم زما په روح اوروان کې دومره ژوره ناسته او اغیزه کړې وه چې په خپل تصور به مې دبلا ګانو بیلا بیل تصویرونه او انځورونه جوړول - په خوب کې به له بلا ګانو په چیغو راپاڅیدم - ځان به مې خولې خولې وو - او کله خو به مې خوله هم له ویرې وتلې وه -

مور به مې نورو کلیوالو ته کیسه کوله چې زما دزوی په تن اووینه کې بلا ننوتې ده - دهغه په رګونو کې یې ځای نیولی دی - نو ځکه ویریدلې وو - هغې به زما دوروړ کیسه په کراتو او په زور وزیر دکلي ښځو ته ویله او پلار به مې هم په هوجره کې په شپو شپو دا کیسه کړه او هغه به هم تاییدوله چې کله بلا دده په مخ کې پورته شوی او جګه شوې وه ، نو بیا یې په خپل حکمت سره زما دزوی په رګونو اووینه کې ځای نیولی وو - یا دهغه په زړه ناسته وه - دا به یې هم ویل چې او س یې باید په زیارتونو و ګرځوم چې بلا یې دزړه نه پاڅیږي -

کلونه واوښتل - زه هم ځلمی شوم - شونډه مې توره شوه - زما دتصور بلا ګانې هم ورورو په بدلیدو شوې - که پخوا به زما دتصوراتو بلا ګانې ببرې تورې اوږدې اودپنجو اوبې رقمه

غاښونو سره وي، نو هغو بیا خپل ځای زما په تصوراتو کې نورو بلاګانو ته پرېښود - ما چاته د دې بلا ګانو کیسه هم نه شوه کولی - داسې نه چې خلک وانګیرې چې ګویا زه ډارن یم - زه له بلا ډارېږم -نه داسې نه وه - او ما هغه وخت دا فکر کاوه چې یوازې زه ډارېږم نور خلک نه ډارېږي - د نورو خلکو په ډار مې هډو فکر نه کاوه - فکر مې کاوه چې که شین ګل کاکا مړ وي نور شین ګلان به را پورته شوي وي او د بلا ګانو کار به یې کړی وي خو نه داسې نه وه -

تیر کال له کلونو وروسته په خپل کلي برابر شوم - زموږ کلي چې دغرونو او ځنګلونو په منځ کې پروت دی - په خپله د پیریانو او دیوانو ځاله وه - او ما فکر کاوه چې په خلکو کې به اوس د بلا ګانو ډار او ویره نه وي - ډیر خلک په مخ راغلل - جومات ته ولاړم - په دیرو وګرځیدم - په هوجرو وربرابر شوم - په وستلونو کې مې خلک ولیدل خو داوار مې ټول غلي او چوپ ولیدل - ټولو یو بل ته په شک او تردد کتل - یو بل یې ښارل داسې نه چې کومه پیښه وکړي - میرمنو او پیغلو د پخوا په څیر په ټیټو کې کار نه کولو او نه هم پیغلې ګودرونو ته راتللې - په کلیو کې مې له خلکو پوښتنه وکړه - د شین ګل کاکا پوښتنه مې وکړه - یوه بوډا وویل: هغه خپل ځان حق ته سپارلی دی - له کومې ورځې چې هغه مړ دی

په خلکو کې ډار اوویره ده - ترهه ده - خلک ډارېږي - له خپلو ځانونو ډارېږي - په خپلو هستیو اوژوند ډارېږي - له دې وروسته په دې سوچونو اوفکرونو کې ډوب شوم چې دا ویره خو نو هغه پخوانۍ بلا ګانې نه دي دا به څه وي ؟

ماته دکلي شپو دپخوا په خیر خوند رانه کړ - ما یې شین شوبې ونه لیدل - ما دخلکو پېندې اومستې خندا ګانې ، دتماکو چلمونه اوپه وستل کې دزلمو اینډې ونه لیدلې - دا ځکه چې ټولو ویل چې خلک ډار لري یوله بله ویرېږي -

دډار اوترهې پېره وریځ ،بې بارانه اوتوفاني وریځ ، دافت اوبربادۍ وریځ په پاس اسمان اوځمکه باندې پلنه ده - هرڅه خپل خاصیت له لاسه ورکړی دی - ډاراوترهه په هر ځای کې حاضره اوناظره ده -

خو نه داسې نه ده - ډار اوترهې دهرتن اووجود په دننه کې ځای نیولی دی - دا ډار اوترهه هغه پخوانۍ اوزړه دبلاګانو ډار نه دی - دبړوو اوښامارانو اودیوانو څخه دخلکو ډار نه دئ - بلکې دې ډار ، اوس په رګونو اووینه کې ځای نیولی دی - په روان اومغزو کې یې ځای نیولی دی -

دکلي په کوڅو ورسمیږم- بلی ګانې لویدلي دي- دخلکو رنګونه زیږ دي- یو دبل په څنګ کې تیریږي خو یو له بله ډاریږي- موټر اوګاډی، بایسکل اوهر څه دویرې اوترهې جوګه دي-

اوس کلي ټول دډار فکر اخیستی- کلیوال وای له کله چې شین ګل کاکا ومړ- دویرې بڼه هم بدله شوه- پخوا به له بلا وو خلک ډاریدل- خو اوس دهر چا په رګ اوتن کې ویرې ځای نیولی دی- اوس هغه دماشومانو ویره نشته-

کلیوال وایي ماشومان اوس نه ډاریږي- مړې هم نه ډاریږي- یوازې هغه کسان په خپل تن او وجود کې ویره لري اودا ویره دهغو له خپلو وجودونو را پورته کیږي اوپه هغو باندې فشار راوړي-

اوس ډار لکه یوه لویه بلا لکه یوه داسې اژدها چې هم یې اسمان نیولی دی اوهم یې ځمکه اوهم یې خپلې وزرې په ټول کلي غوړولي دي- له هرڅه زیات په تنونو اودهر چا په وجودونو کې ډار توپیر لري- دهر چا ډار دهغه دتن نه راپورته کیږي دهغه دسر نه، دهغه دزړه له وینو اورګونو نه راپورته کیږي- یوازې ماشومان، دددې ډار په باب فکر نه کوي ،لیونیان هم فکر نه کوي اومړې هم په دې کیسه کې نه دي- خو لویان او بالغه کسان

ټول ددې سترې اژدها چې هم دهغو په تن لاسبرې ده اوهم دهغو په تن کې يې ځای نيولی دی سخت په ډار کې دي-

نو ځکه خو اوس بلا لويه شوې، ستره شوې اوپلنه شوې اوتر هرڅه تيره لا داچې په تنونو کې ننوتې ده- اوپه ټول کلي يې قبضه اچولې ده-

لغمان مهترلام ۲۰۱۲-۱۰-۱۲۴

# برېوکۍ

نن بیا ددي ښار اسمان نیم وریځ او نیم شین دی- رښتیا ددي هیواد اسمان همداسې وي-کله چې دکوټې له کړکۍ بهر ګورم , دتنکي پسرلي سوړ بادراالوځی , په سړک کې پراته کاغذونه ,خځلي اوخاشاک له ځمکې پورته کوي- خو بیرته یې یا په شړک اویا وروپر ځمکه غورځوي- یو نیم خځلی اوکاغذ پاڼه ډېره سپکه دبورېوکۍ سره په هوا اوبیا له سترګو پناه شي-دامهال ښه ډیره شیبه دباد نڅاه په فکر کې واخیستم -

دکوټې له برې خوا دکوټې یو اوسیدونکې په کړوپه ملارا روان دی-د یو برګ سپې پړی یې په لاس کې نیولي دی , کله ورته ناز ورکړي اوکله یې هم په ځان پسې راکاږي - دکور مخې ته رارسیږي - ښه په ځیر دروازې ته ګوري - بیا یې له کړکۍ دننه پر ما سترګې لګیږي ښه په ځیر اوغور سره پر ما سترګې ګنډي -سپی هم خوله وازوي - اولکۍ خوځوي - خو زه پام بلې خوا ته اړوم -په خپلو چرتونو اوفکرونو کې ځان مشغولوم-ناڅاپه له حال نه تښتم اودماضي په ډېرو لیرې وختونو کې ځان مومم -

یو سهار چې مې دکلا په ښی اړخ کې له دېرې لاندې دسیند پر سر په لوښي پټي کې قولبه کوله- زموږ دقولبې غوایان ډیر ډنګر

شــوي وو - دژمــې ســختيو ،وچکــالۍ اوقحطــۍ وهلــي وو- داوربشو دوره هم ډېره کمه وه چې په وچو وابښو مو ورتـه اچولې وای اوقولبې کولو متره په کې پېدا شوې وای- ځمکه هم کلکه وه ، غوايان په کې چست اوچالاک نه شول تللی- نو کله نا کلـه بـه مې دلښتې گوزار پرې وکړ- ارومرو چې خوړ بـه شـول اوټـوپ بـه يې واچاوه - دلښتې دگوزار تداعي به زما مټ ودرداوه ژر بـه يـې اوس ته راستون کړم،،

نن چې دگاونډي سپی پـه ډېر نـاز اونخرو سره کله لـه خاونده ليرې اوکله هم نږدي ورسره روان شي خو کله چې يې سترگې لـه ما نه واوړي نو اسمان ته وگورم - داسمان خوځنده وريـځ کلـه خو دلمر مخه ونيسي په ټول ماحول توره شپه جوړه کړي اوکله هم يو ناڅاپه رڼا کړې -لمر ټوله ساحه روښانه اوتـوده کړي اوبيا تـورتم جوړ کړي-

کلونه پخوا چې په خپل کلي کې ووم - هلتـه زمـوږ دکلي اسمان وريځ نه درلوده - په اسمان کې بـه وريـځ نـه ليدل کيدلـه - دلمر پـه راختلو به تودوخه زياته شوه - هوا به گرمه شوه - رڼا به هم وه اوتـر هغو چې به ماښام کيدلو همدا شان به هر څه پـه خونـد اومزه روان وو- هلته لارويو په ناستو سلام اچولو - هيڅ چا يوبـل تـه بد بد اوبرندې نه کتل-

دجنگ په کلونو کې مې پلار ووژل شو - په کلي سخت توفان اودمرمیو ږلۍ وشوه - ډېر کسان په کې مړه شول - دبمباریو په اثر کلي له ځمکې سره هوار شول -زموږ دکلي هدیره چې یو څوتنه محدود اولږ شمیر مړي په کې ښخ ول اوس هغه شان نه ده -اوس ډېره اوږده شوې ده، له یو سر نه تر بله ایله سترګې کار کوي - جنډې هم پرې ډېرې ګڼې شوي دي - مور مې په زور زاریو زه له کلي راوویستم -هغه یوازې په کور کې پاتې شوه - زه له کوره په اوږده سفر راووتم -

په هغه سهار هم زموږ دکور پر مخ کې یوه بوړبوکۍ راالوتلې وه - تند اوچټک باد ټول ګرد اوخاورې په هوا کړې وې - کاغذونه خځلې اوخاشاک یې په هوا کړي ووپه خپله ټوپۍ مې لاس کېښود - څادر مې په ولو ټینګ کړ - یو پیڅکی مې ورته په خوله کې ونیو - زه له کوره راووتلم - په بوړبوکۍ کې ونښتم -لکه چې زه هغه مهال ګرباد جګ کړم اوبیا په ځان ونه پوهیدم چې څه شوم -،،

☺☺☺

سپین ږیری په ځیر په مابرندې سترګې ګنډلې دي- سپی یې هم راته لکۍ خوځوي- د کوځې له بره سره بیا بوړبوکۍ راالوزي- په کوځه کې تاوېږي- سپین ږیري په سترګو لاس ږدي -سترګې پټوي او بیا زه خپل ځان ته ګورم چې د بوړبوکۍ پر سر د کاغذ او کله هم د خځلو او خشاکو په ځیر تاوېږم- کله مې په ځمکه واچوي او کله بیا هم د سپکې بنګې په ځیر په هوا شم- هلته لیرې ګوزار شم-

باد په تراټ په کوځه کې تاوېږي- چنګاری او فریاد کوي- سپین ږیر ی کله شاته وګوري او کله هم خپل سپي ته ناز ورکړي- یوازې زه یم چې هم په خځلو او خشاکو کې ځان وینم او کله دنورو په سترګو کې وینم چې د بادونو او بړبوکیو له چنګاري سره په هوا یم- دیوه خځلي په توګه دیو باطله کاغذ په توګه په هوا یم- او همداسې په کوځه کې بلکې دزمان او وختونو په کوځو کې ورکېږم-

☺☺☺

اوس له هغو شیبو کلونه تیر دي- لسیزې واوښتې، پیړۍ به هم واوړي- خو زه به بیا دمور لیده ونه کړم- کله ناکله مور په خوب کې راځي- داسې چې له کلونو راهیسې پر یوه ځای د پلار قبر ته ناسته ده- هماغه قبر ته چې شناختې یې په ځمکه هوارې شوي

دي - ورسره په خبرو خبرو یم -ولې کورته نه ځې ؟ دلته ساړه بادونه دي - یخني ده - سور لمر دی - باد اوتوفان دی - دپلار خو ډېر کلونه وشول چې مړ دی ته څه کورته درومه -

خو ناڅاپه مې لمسې مخې ته دریږي راته وایي زموږ کلی چېرې دی ؟- ما کله خپل کلي ته بیایي ؟

خو زه هغه ته بوړ بوکۍ نه شم سپینولی -

۱۹می ۲۰۱۲کال

# زموږ برگ سپی

ابله ورځ مې په سیمه ییز اخبار کې د((په زړه پورې خبرونه)) تر سر لیک لاندې ولوستل:

((میرمن جاکې سمیت چې یوه بډایه اوډېرو شتو اوهستۍ خاونده ده - څه موده دمخه محکمې ته ولاړه -هلته یې په محکمه کې داسې سند جوړ کړ چې زما نیمه هستې اوجایداد زما د برگ سپې (جورج )پورې تعلق لري- جورج زما په شتو کې شریک دی-)) دا خبر ماته هم په زړه پورې وو - خوزه یې نه یوازې له ځانه سره په فکر کې واخیستم بلکې زما دذهن کرونده یې نوره لا پسې ژوره راوسپړله اودخپل برگ سپې یادون یې راته یو وار بیا په ذهن کې ژوندی کړ-

***

کلونه وړاندې هغه ته چا په ډوډۍ کې ستنې ورکړې وې- دوه ورځې په پرله پسې توگه وتوخید - اوبیا په ډیر عذاب چې اواز یې له ستونې په سختۍ راوتلو ، تر سهاره ساه ورکړې وه - کلې ته خیرمه ویاله کې چې اوبه یې نه درلودې مړ پروت وو- لارویو چې لیدلو ،سره له دې چې ددې سپې له لاسه په لاره په زغرده نه شول تللی خو بیا هم دهغه په زړورتیا اووفادارۍ یې افسوس

کاوه - هر چا به زمونږ دبرګ سپي وفاداري او په مال ،دیره او پټیو باندې پام ساتل ستایل -پردیو ته یې ددې مجال نه ورکاوه چې دکلا خوا ته ،دېرې ته ،فصلونو ته هسې کاږه وګورې - خو هغه چا دکینې له مخې وواژه - ستنې یې ورته په ډوډۍ کې ورکړې وې - ستنې یې په ستونې کې نښتې وې - اواز یې نه شو راوتلې اوله هماغې ومړ اوبیا په وچه ویاله کې دهغه مړی پیدا شو -

زمونږ په ټول مالت کې همدا یکې یو سپی وو - زما یې کوچنیوالی نه یادیږي - خو اوریدلي مې وو چې هغه ډېر کوچنی وو .دکوچیانو دکیږدیو په کلي کې پاتې شوی وو - دکاکا له خولې کیسه مې په یاد ده چې ویل یې:

یو سهار لمر خاته دکیږدیو کلي ته پر لاره ووم - یو اواز مې تر غوږو شو -یو کوچنی کوکري چنګل.زما پرې پام شو دیوې ډبرې ښنګ ته پروت وو -ماته یې دزاریو اونا علاجۍ په سترګه وکتل لکه چې نوره متره په کې نه وه - یوازې پروت وو - دکیږدیو ټول کسان ترې تللي وو - کیږدۍ ټولې پورته شوی وې - څاروي هم تللي وو - دچرګانو هم پته نه بریښیده - په لیدو مې زړه لوی کړ -کوکری مې په غیږ کې را پورته کړ - کورته مې راووړ ، مور مې کړ اوبه مې ورته ورکړې -))

زموږ ادي چې اوس د بخښنې ده- یوه ورځ یې موږ ټول ماشومان کښینولو او په نصیحتونو یې پیل وکړ- ویل یې:

ګورئ بچو ، چې سپی درنه ازار نه شي -په لښته یې ونه وهئ- په زور یې ونه ځنګوئ ، او داسې نور- موږ به تری پوښتنه وکړه ولې سپی خو سپی دی- سپی خو خلک خوری ، داړیږي یې- سپی خلکو ته خوله اچوي- او خلک زوروي-

خو زما خبره واورئ چې ټول سپي داسې نه وي- یو نیم د مرتبې خاوند هم وي- پخوانو ویلي دي چې کله ناکله یو ښه او نیک سړي چې له دې نړۍ سترګې پټې کړي او لاړ شي نو روح یې په یوه حیوان کې راژوندی کیږي- نیک سړی چې په خپل عمر او وخت کې د خدای لوی نیک او عابد تیر شوی وي، روح یې ابدي پاتې کیږي- داسې مې هم اوریدلي دي چې په راتلونکې کې د هغه روح په سپي او یا بل حیوان کې ننوزي، هغه خبرې نه شي کولې خو زموږ د ټولو اعمال ځاري نو ځکه خو وایم چې دا کوچنی سپی چې اوس زموږ کورته راغلی دی دا هم ماته بې څه نه ښکاري- بې څه نه مالومیږي- ارو مرو چې په ده کې هم یو کمال شته- دا وګورئ ، چې دده په راتلو سره چې کله دې کورته راغلی دی زموږ په کور کې ارامه ارامي راغله- ستا سو پلار په لوی درد او ناروغۍ اخته وو یو دم جوړ شو- په کور کې خوشالي

راغله اوبله داچې نه ګورئ چې دی یوازې هلته پروت دی - دا هم معجزه ده - کیدای شي دا بل داسې کوم موجود وي چې د سپي په شکل هلته پیدا شوي وي - نو ترې ځان به ساتئ -:

هغه ورځ زه دادې همدې خبرو پر سر واخیستم سوال راته پیدا شو چې څنګه سپي کې دانسان روح ننوزي اویو نیک انسان د سپي په څیره کې را برسیره کیږی - همدې فکر په شپو شپو زه خوب ته نه پرېښودم، تل به ددې خیال اومفکورې یو تصور اوتجسم له ما سره په ذهن کې وو -لا به همداسې زما په خیالاتو کې غزیده - په خوبونو کې به مې لیده چې څرنګه د سپي او دیو حیوان روح زما په تن اورګونو کې را ننوزې - سپي مې په وجود کې غاپي ، ځناور زما په لاسونو او پښو عمل کوي - اوکله خو به دا خبره نوره هم راته په فکر کې عامه شوه - دبدو ردو والا سړی اوپه مجموع کې انسان به راته سپی په ذهن کې ودراوه ، قاتل اوبې رحمه به را ته په مخ کې ځناور شو - اوبیا به ډېر داسې عیني اومجسم کیده لکه چې زما دسترګو په وړاندې چې دیو څیرووڼکی حیوان روح دیوه انسان په رګونو اوپوستکي کې ننوزي - اودهغه له ګریوانه سر راوباسي - نور زوروي ،نور داړي - کله به بیا ځان ته اوخپل دننه ((درون)) ته راوګرځیدم - دنورو په وړاندې به راته خپله بې ارزښتي را جوته شوه اودهغو

لږه بې پروايي بس وه چې خپل موقعيت د حيوان په وجود کې پيدا کړم -

دې او داسې نورو انديښنو پسې پر سر واخيستم - فکرونو يوړم - اوبيا دې خبرې هم په انديښنه کې واچولم چې انسانان هم يو بل داړي يو بل زوروي - يوبل وژني - په دې اړه فکر کول را ته لږ څه نور هم په زړه پورې شول - سمه ده چې په انسان کې دوه ګونې طبعيت موجود دی - انساني او --- اوبيا مې ورو ځان ته فکر شو - زه هم کله نا کله د تنفر وړ ګرځم - د خپل ځان له خوا د خپل ماحول له خوا او د خپلو نږدې کسانو له خوا - خو کله بيا نه - کيدای شي چې داسې وي - په ما کې به هم ديو حيوان روح ځای شوی وي اويا ديو بل انسان - هغه به اوس زما په وجود کې ژوند ته دوام ورکوي - په همدې خيالونو کې به ويده شوم - په خوب کې به هم د ځانه د نفرت او کرکې احساس پياوړی شو - سپی به مې غوره وباله - ژوند !!

کوم ساده ويلي دي چې ((ژوند)) ښکلی دی - ژوند ----- دی - ژوند د هيلو او اميدونو هديره د نيمګړو او نه پوره کيدونکو ارزوګانو يو عبث او بې مانا ډيپو - نو هڅې او تلاشونه ټول او ټول د سپې له يوه غپ سره -----

***

خو پرون چې مې د میرمن جاکې سمیت د سپي دارزښت خبر په ورځ پاڼه کې ولوست - دژوندانه دبهیر په یوه شنده کې مې د میرمن سمیت سخاوت ته پام شو - بیا مې دخپل برگ سپي داستان په ذهن کې دبرښنا دځرېکې په توگه لاره وویسته - دخپل برگ سپي له ناخوالو ډک مرگ وځنگولم - بیا په دې خبره کې غرک شوم چې ښه نو زما ، نو زمونږ خپل موقعیت اوځای چېرې دی ؟

دې خبرو په وار وار له داسې انجړې فکري ماشورې سره مخامخ کړم چې ټوله ورځ به له سهاره ترماښامه ، په لاره او په کور کې ، په ښاري سرویس او په پلې لاره کې به مې خلک په دوه خیرو کې لیدل - هم د سپي او هم د انسان او د انسان سپي - ځینو به چې خوله اچوله او د ځینو به چې له دې کاره ډډه کوله - په یوه انسان کې د سپي دروح ځاییدنه او په سپي کې د انسان دروح او نیک سړي دارواح ځاییدل -؟؟؟

همداسې به راته د فکر کولو دایره غځیدله - کله به د میرمن سمیت د سپي بزرگۍ ته فکر یووړم او کله به دکوچنیوالي د دوران دخپل برگ سپي په بد مرغه مرگ او له هغه راولاړ شویو تصوراتو خواشینی شوم - دواړو پیښو د سپي او انسان ، انسان

او سپي اويا انسان سپي اندې په ننګښو باندې د سميت سپي کيسې نورې درندې ډېرې هم ايښودلې -

کله به خپل ماحول ته او کله به خپلې اوږدې خو لنډې ماضي ته ځير شوم ، په خپل ماحول کې به مې ځان نور هم د خپل برګ سپي سره يو شان خو د ميرمن سميت له سپي سره په واټن کې پيدا کړ -د ژوند منډو ترړو ته هڅو او هيلو ته چې ارزښت يې په يوه کنده کې د خپل برګ سپي په څير په لويدو سره پای ته رسيږي - د ژوند د ېوې مقطع او يوه لنډ واټن خبره ده چې بس زړه پرې خوشاله او د موجودو ستونزو څخه د تيښتې له پاره ترې روانې اندېول جوړوو - او بيا به مې دې انديښنې په ذهن کې ځای ونيو چې د امور نه يو - دا زه او ته نه يو بلکې نور دي چې هم د برګ سپي او هم د جورج له پاره موقعيت او ارزښت ټاکي - او زمور کيسه دې ته ورته ده ----

# یوه دراز خبره...

سرتیري په ډیره کراره ددفتر ددروازې دړې ته دلاس په گوته درې ټکه ورکړل- ددروازې له نیمکښو کېدلو سره ډگروال گل بت هم ددفتر دراډیو غوږې کینښې خواته تاو اوورو کړه- سرتیرى را ننووت- رسم تعظیم یې پر ځاى کړ- گل بت یوازې سترگې پورته کړې ! په سرتیرې یې وگنډلې اودسترگو په اشاره یې وپوښتلو :!

-صیب یو بوډا راغلی دی وایي دصمد پلار یم- !

-ورته ووایه چې راشه !اوبیایې سترگې کښتته واچولې اوله ځانه سره یې څو وارې تکرار کړه-شهید صمد !!!

هغه هم --- !

,,په درنگ سات کې یې دڅو شپو دمخه د واده محفل په ذهن کې غزونې وکړې-صمد داتڼ په سر کی دی- دډهل له ترنگ او شرنگ سره ددفاع اوحملې کړاو اجرا کوي- په ونه دنگ متهور ځلمی دی- دواده دمحفل ټول گډون کوونکي داتڼ چیانو تاویدل اوحرکات څاري-

صمد له بله هر وخته نن ډير مست او ښکلي بريښي - داتڼ پر سر کې روان دی - داتڼ د جبهې لار ښوونه کوي - او په دې ډول د واده محفل تود ساتي - ,,

بوډا په کړوپه ملا په دروازه کې را دننه کيږي - يو وار مخامخ ثوکۍ ته گوري مخ اړوي ډگروال گل بتويني - ډگروال له خپله ځايه ولاړيږي - د ميز له شاه را ووځي - له بوډا سره خوله په خوله مخ په مخ دريږي - د بوډا سترگي ډکيږي او از يې په ستوني کې زندۍ کيږي - د گل بت هم خوله وچيږي - د خبرو مجال يې ورکيږي - ټټر يې پړ سيږي - خو ناڅاپه بوډا په غيږ کې نيسي او ورته وايي:

-بابا دخداي رضا ده - دا زموږ د ټولو حال دی ثوک دمخه او ثوک وروسته - موږ ټول د دې لاري لارويان يو - او د صمد په قدمونو پل ږدو -

بو ډا په ثوکۍ کښينوي او همدومره ورته وايي حوصله دې جوړه کړه - دا او به گوټ کړه چې ستونې دې لوند شي - دا او بو گيلاس ورکوي - ډگروال بيرته په خپله ثوکۍ کښيني - سکوت بيا په دفتر خپل راج چلوي - د دفتر په مخامخ ديوال کې د کړکۍ له منځه د شنه اسمان پراخ دهليز ويني چې وريځې په کې په منډه

اوځغاسته دي - له کړکۍ لاندې په اوږده غځېدلې څوکۍ بوډا ناست او فکرونو په مخه کړی دی.

،،بیا یې نا څاپه دوریځو په انځورونو کې دصمد دځو شپې دمخه دمست اتڼ حرکات را ژوندي کیږي - هر یو وايي - اوه - صمد ځان خولې خولې کړ- دصمد دورور واده دی - په خوشالۍ او مستۍ نه پوهیږي - موریې له ورایه راځي - په درنو قدمونو رانږدې کیږي او په صمد دلسګونو نوټونو بنډل شیندي - همدومره وايي دادې ستا د سر خیرات وي - او بیرته خپل ځای ته ستنیږي - دصمد ناوي هم په ښځو کې سر راپورته کوي ویاړي او دصمد په اتڼ غاړه هسکه نیسي - خو صمد سرتیری دی - ځمې نه لري - اوله قطعې څخه یوازې دنن شپې واده له پاره راغلی دی ،، -

ګل بت غاړه صافه کړه ! دخبرو کولو له پاره یې ستونی لوند کړ -

-ښه کاکا ! چرت مه خرابوه زه پوهیږم ستا زړه سوری دی - زما هم درسره سوری دی - صمد ستا زوی او زما ملګری وو - زما تورزن ملګری - هغه له ما سره سرتیری نه بلکې زما دقوماندې شریک وو موږ یوځای وو - زه به درته یو راز ووایم خو له ځانه سره به یې ساتې چې په عمر کې دې له خولې ونه ووځي -

بوډا حیرانیږي- هر څه یې له پاده ووځي ډګروال ته نور هم ځیر کیږي- همدومره وایي- ډاده اوسه-

ډګروال بیا ټینګار کوي-((ګوره !چې خپل راز درته ووایم فکر کوم دیوه پښتون په څیر به دې زړه اوبه وڅښي- او دصمد غم به دې لږڅه له اوږو سپک شي- ))

بوډا دتایید له پاره همدومره وویل: موږ ټول دمرګ په لاره روان یو خو دهغه کوچني ماشومان مې ځوروي- !اوبیا یې ستونی ډډ یږي-

ګل بت بیا دبوډا دپټکي ولونو ته ځیرکیږي- اوښکې یې دسپیني ږیرې په تارونو کې لارې کوي او کښته را رغړیږي -

©©©

ګل بت بیا دجګړې ډګر ته ولاړ- پر هغه سهار یې ډېر ځله صمد ته وویل: هلکه ته عملیاتو ته مه درومه- تا دواده شپه په وینبه تیره کړې ده- خوب دې نه دی کړی- په واده کې داتښونو له وجهې سترې ستومانه یې- ځواب دې زه وایم- خو صمد کله صبریږي ؟-

,,نه قوماندان صیب !زه تا یوازې نه پریږدم- ماته په کور کې ناسته خوند نه راکوي- زه اورومرو درسره ځم- دکابل په شما ل کې

دشکردرې په سیمه کې په یوه لیرې غره ته خیرمه کلي په شاوخوا کې دقطعې سرتیري خواره واره ول - دبهرنیو په اصطلاح دوستانو سرتیري هم خواره ول - غنمو خید کړی اوتر زنګنو پورې را پورته شوي وو - ونو هم پاڼو ته ځانونه جوړ کړي ول - ځینې سرتیرې لیري لیرې په ویالو اوپټیو کې خواره پراته ول -

دغره له برې ترې یو نیم ډز اوریدل کیږي - بهرني په اصطلاح ،،دوست سرتیري،، هم منتظر ول - یو شمیر پټیو چې خنډې دیوالونه ترې چاپیر ول دسنګرونو حیثیت درلود -

ناڅاپه داوربل غبږوشو ، ډزې زیاتې شوې - دمرمیو باران زور واخیست - جګړې ډیرې شیبې ونیولې - بهرنیو سرتیرو په مخابره کې چې درې تنه یې ټپیان شوي وو خپل قوماندان ته څه وویل - قوماندان یې په قهر شو - کلاشینکوف یې راواړولو اوقهر یې په صمد چې خواته یې نږدې پروت وو ، سوړ کړ - دګل بت ساتونکي هم دسترګو لیدلی حال ګل بت ته وویلو - صمد لا ساه نه وه ورکړې چې ګل بت کله کوف را واړه ولو ، شاوخوا یې وکتل - وې لیدل چې څوک نه بریښي - بیا یې په بهرني ډګرمن دچا خبره د ،،دوستانو قوماندان،، باندې شاه جور تش کړ - هغه

لکه دتورۍ په ځبر را وځړېده - خبره دجنګ په ډزو کې ورکه او چو په شوه -

بهرنی قوماندان چې اخوا دیخوا یې کتل او په مخابره کې یې لارښوونې کولې دا سات یې مخابره چوپ شوه - ګل بت هم ځان غلی کړ - جګړې دوام وکړ سرتیرو مړې او ټپیان شاته کړل دماښام تروږمۍ په لګیدو شوه - او ددویم امر سره سرتیری له پټیو په شا او خپلې قرار ګاه ته په لیکه روان شول--

©©©

ګل بت دمیز له سره داوبو ګیلاس را پورته کوي - بوډا ته یې نیسې وایي:

پلاره ! یوه خبره درته کوم !

-څه وایي ؟

ګوره دا وظیفات ((پنجسوره )) ګوره - په دې خو باور او عقیده لري -

-ولې نه الحمد الله په اوداسه یم -

-هغه چا چې په صمد ډزې کړې وې او هغه يې وژلی وو - په همدې کلام الله درته سوګند خورم چې په همدې کله کوف مې غلبيل کړ - صمد په خپلو سترګو وليد - هغه لا ساه نه وه ورکړې چې د دوستۍ په کاليو کې دوښمن مې ختم کړ - ما دصمد بدل اخيستی دی -

سپين ږيرې په کړوپه ملا را پاڅيد - غوښتل يې د ګل بت په پښو کې ولويږي - خو هغه له مټ نه ونيو او پورته يې کړ -

لندن ۲۰۱۲-۴-۱۲

# دخو مابنامونو

## په ترورېميو کې:

له شلو کالو وروسته مې ولید - داوار يې ږيره پر مخ نه وه - نور هم سپيره شوى وو - ډيره خندا هم نه وه ورپاتې - کله چې مې هغه له ځانه دلاري دښودلو په پلمه مخ کې کړ - ومې ليدل چې اوس ورته هغه جګ قامت هم نه دى ورپاتى - په کړوپو ولو د((غزل شاه زلمى)) زما تر مخه روان و - او کله به يې مخ هم راواړاوه - هم دا خبره يې څو واري تکرار وله - ځواني اوزلميتوب لاړ. وختونو وخوړ - پر موږ عمر تير شو - اوس دادى زړيږو - زه دلته په دې ښار کې هيڅوک نه لرم- کېداى شي يوه ورځ زما مړى او جسد هم بوى وکړي اوله اونيو وروسته زما ګاونډى زما له بوبه په کړاو شي - تېک تېک وکړي اوچې ځواب وانه اوري نو بيا به پوليس را خبروي او په کومه کنده کې به مې ګوزاروي - خو زه دومره هم له دې زمان څخه توقع نه لرم -

موږ په همدې خبرو خبرو کې دهغه کورته ورسيدو - دهغه پيشو راته ددروازې په مخ کې لکۍ وخوځوله - اوددروازې په بيرته کولو سره يې راته ښه راغلي وويلو -

په زړو کوچونو کښېنا ستو او د خپلو کیسو په ویلو یې پیل وکړ - زړه به یې کله تنګ شو بیا به کښېناست - همدومره به یې وویل: واه سړیه ستا هغه مسته خندا څه شوه ولې داسې چوپ یې؟ - کېدای شي هغه ددې له پاره دا پوښتنه کړې وي چې یا خو به د خپلو حیرانوونکو خبرو څخه پام بلې ته واړوي او یا دا چې خپلې خبرې ورته اوس چې زه یې حیران کړی وم، عادي او معمولي برېښېدې -

دا خبره یې څو څو وارې تکرار کړه - بس دا ښه ده چې اوس لا هم انسانان پاتې یو - نورې خبرې پرېږده - له ماسره خو اوس هم دانسان مینه زما په بوده او تانسته کې اوبدل شوې ده - نور نه پوهېږم -

ورته ومې ویل لیونیه (پخوا به مې په همدې نامه ورته غږ کاوه ) ولې دې خپله سرینده نه غږوې،

-له سریندې دې هدف څه دئ؟

- له سریندې مې هدف شعر دئ -

- نو داسې ووایه چې شعر ووایه -

- خو همدا وايم چې وچې خبرې اوس خوند نه کوي - ژوند يو لوى پيټى دى، چې هم يې زما اوږې کړوپې کړې اوله تا خو يې ((ملا کړوپى)) جوړ کړى دى -

سمه خبره دې وکړه - خو که دا زما قسمت چا ماته په ګوتو راکړى واى، ما به هم ورته په رڼا ورځ د اسمان ستوري ورښوولي واى -

- خو ښه ده چې په لاس دى درنه رغلو که څنګه ؟

-نو اوس شعر ووايم ؟

- نو ((مهر)) خو ستا زده نه دى-

-((مهر)) خو هغې ځوانيمرګې له ما هير کړ - اوبلکې ځان يې رانه هيرکړ -

***

کلونه وړاندې کله چې په کابل کې وو، هغه په پوهنتون کې محصل وو - د خپل کلي په يوه روښانفکره اوباسواده کورنۍ کې يې په يوه پيغله زړه بايللي وو - ډيره هڅه يې وکړه او ډېرې مرکې يې د نجلۍ پلار ته واستولې خو د نجلۍ پلار هغه د خپلې لور

سیال نه باله داځکه چې هغه دیو بیوزلي بزګر زوی وو- اونجلۍ دیوه دولتي مامور لور وه-

ځو واري یې وپتیله چې په بیا بیا مرکه وروا ستوي خو دده کورنۍ هم ورسره سلا نه کوله- یوه ورځ هغه له بل چا سره په نامه شوه- همدا شیبې وې چې دلیوني دشعر چینه په خوټیدو وه اوتل به مو بنډار دهغه په شعرونو تود وو-

_***

بیا مې ورته وویل: نو ځکه خو دې دشعر چینه راوخوټیده که څنګه؟

- راخوټیدلې وه- خو دمهاجرت اوبې وطنۍ ژوند را ته بیا وچه کړه، او اوس ډیر لږ شعر لیکم-

په هر صورت ستا د شعر ملکه هماغه وه چې ستا په ذهن کښېنا ستله اوته یې شاعر کړې- اوګوره یوې بلې خبرې ته دې پام دی؟

- کومه خبره؟
- - یو وخت مې د مرحوم استاد علامه قیام الدین خادم یو کتاب چې ((نوې رڼا)) نومیدله- ولوست- په هغه کتاب کې ستاسو دکلي یو شاعر چې سید کمال نومیده په باب یوه مقاله راغلې ده

- دا مقالــه او د ســید کمال د ژونــد حــال ډیــر پــه زړه پــورې او دردوونکــی دی- او د ســید کمال دا شــعر خــو مــې ډیــر زیــات خوښیږي چې کوم سندرغاړي ویلی دی-

- -کوم شعر:

زلفې دې په مخ کړې دام------نیسې د هوا مرغان،

خلاص به ترې نه نه شم لیلا تور اوربل دې جال دی،

ولې دا فریاد کوې ----- موربه په دیدن شې ته

وخت خو گوره شته لا ډیر چربانگ وخت دوصال دی

سپین مخ دې مهتاب دی شغلې یې پر هر لورې ځي،

سره نتکۍ دې سره لمبه ده سکروټه په کې لال دی،

نوم دې هوا جانه ده --- خلک دې ببو بولې

ستا ددر ملنگ پتنگ قسم چې سید کمال دی-

©©©

- هغه په کټ کټ وخندل- خپله پیشو چې په غیږ کې یې کښینولې وه، لاس یې پرې تېر کړو ویل -

- -خو ته له یوې خبرې خبر یې او که نه ؟

- -نه! کومه خبره ؟

- زه به درته اوس یو راز ووایم - ته پوهیږې چې سید کمال هم زموږ د کورنۍ پورې اړه لرله - او هغه د ببو جانې په مینه کې همدا سې ستې پاتې شو - او ببو جانه پوهیږې - هغه یې پلار سید کمال ته ورنه کړه - بلکې زموږ د کورنۍ پورې یې اړه درلوده او زموږ د کورنۍ نیا وه -
- ډیر ښه اوس پوه شوم چې یو خو عشق او مینه هم میراثي ده - شعر هم ارثي دی او د سید کمال انتقام له تانه هم په ارثي توګه اخیستل شوی دی -
- ټولو په ګډه وخندل - او بیا زموږ لیوني خو غزلې وویلې -

# ګرځون

له کلونو وروسته لاروي یو وار بیا ځان دښار په منځ کې ولید - دا وار د پخوا په څیر نه چې هر څه اشنا ،بلد اومالوم ورته وبریښي - داوار چې هر څه ته ګورې نو هر څه نا اشنا اوپردې دي - سړکونه پردي ، خلک پردي ځمکه پردۍ دیوالونه اوودانۍ پردۍ دي -لاروی یو وار له ځانه سره فکر کوي:

ایا دا هرڅه بدل شویدي اوکه لاروی بدل دی ؟- دا پوښتنه لاروی له یوې روانې شخړې سره مخامخ کوي - هغه نه پوهیږي ، پوښتنه وروو رو غټیږي ،ستره کیږي - ښار پردی شویدی ؟ لاروی پردی شویدی ؟ خلک پردي شوي اوکه بیا هم لاروی پردې شوېدی؟ دپردیتوب پوښتنه لاروی هم له ځانه پردی کوي ، دخوب اوخیال حالتونو ته ځي - په وروو روو ګامونه اخلي ، هرې خواته دنا اشنا مسافر په توګه ګامونه اخلي - بلاکونو اوودانیو ته ګوري ، سړکونو ته ګوري ، دوکانونه ویني ، بازارونه وینې اوبیا په دې ټولو کې دخلکو ګڼه ګونه احساسوي - بیا ناڅاپه تېرې اوښې تېرې ماضي ته ورګرځي:

يو مهال يې په دې وړاندې کورونو کې وخت او شپې ورځې تيرولې - هغه مهال دلاروي ګاونډی عجيب سړی وو - هره شپه به يې پلاستيکي شراب پر سر اړول او چې نيمه شپه به کور ته راتللو نو د کورونو په مخکې ويالـه کې به پروت وو - که کوم څوک به پيدا شول نو راپورته به يې کړ ، بيا به يې په وسو وسو کورته ننويست - هغه به هره شپه کالي په ګرځون باندې ککړ کړي وو - چې څه به يې څښلي وو بيرته به يې راګرځولي وو - ټول ځان ،کالي به يې ککړ وو-

اوس له هغه شيبو ډير کلونه تير دي کله چې هغه مهال ذهن ته ورځي ، نو ګرځون ورياديږي ،د ګرځون دايره ستره کيږي ، دومره ستره چې يوازې د ګاونډي په عمل کې پای ته نه رسيږي - بلکې له ځانه سره سوچ کوي - ټولنه هم ګرځون کوي ځينې انسانان له خپله نسه بهر غورځوي اودخپل نس دځانګړنو سره سم نور ساتي - هغه انسانان ، او موجودات چې له خپله نسه يې بهر غورځوي بيا ځان دهغې برخه نه بولي -

لاروي ته په فکر کې را ژوندی کيږي: کلونه وړاندې يې له دې ځلورلارې يوه جنازه تېر وله- نه ! بخښنه غواړم جنازه نه بلکې يو سخت ټپي چې له درندو زګيرويو سره يې په تذکره کې ليږداوه - هغه وخت هم خلک اوتراوتروو. يوازې دوه تنو تذکره په اوږو

اېښي او تیرولـه یـې.بنیـادم یـې لیـږداوه.غـونـی یـي زیـږوو.اوتـرا وحیران وو .پر مخ کې یې ډېری پېژندوی کسان روان وو.مخې ته یې راتلل،شاته یې هم دخلکو لیکه جوړه وه. یو بل ته یې سلام نـه ورکـاوه. لـه همـاغې ورځې لاروی سـرګردانه وو .لـه همـاغـه ورځې پردی شوی وو .ځکه چې چا سره یې د سلام اخېستلو متـره نه وه .

هغـه ورځ دېزو او بـاروتو ددنـدوکار وو- ګـولۍ هـرې خواتـه لګېدلې.له روغتون نه وتلی وو ، له ناروغ سره یې په یوه کور کې اړولې وو.یو سهار دوه تنه دکړکۍ لـه لاندې تېـر شـول.دواړه ښـه دنګ زلمي ول.یوه بل کور ته دچا پوښتنې له پاره تللی وو.دلسـو منټو په واټن کې نورو دوه تنو یو له هغو تیر شویو ځوانانو پـه ځادر کې اچولی او بیرته یې تیر کړ. له ځادرنه وینې بهیدې لاره ټوله تکه سره وه -

خو له لاروي سره څوک نه ول له ده سره چاتذکره هم نه وه نیـولې .هغه مهال د سړکونو غاړې ګردی مورچې شوې وې ټوپـک والا ټول په مورچو کې ناست ول .دېزو او خرپ وترپ تابیا یې کوله.

رښـتیا لاروی څلور لارې تـه راورسید چې هرلـوری یـې د ډېرو عکسـونو او تصـویرونو سـره سـره دسـتاینو او مدحویـه کلمـاتو اوعباراتو سینګار شوی وو .....

لاروی چې اوس له هرځه سره پردی شوی وو- د هرڅه په لېد و سره له تېرو یا دونو سره او له خاطرو سره ژوند کوي. ناڅاپه د ځلور لارې د بنې په لیدو سره تېرې ترخې ماضي ته ورو ګرځید :

((یوه ورځ د ماښام او مازدیګر ترمنځ چې لمر د پغمان د غرونو پرسر هسک ولاړ او لکه د پیښو د یو خبر شاهد چې وی، د کابل ښار ته کاږه کتل. ډېر ښاریان ، ښځې او ماشومان دده افغانانو په تم ځای کې د کابل ښاروالې ته مخامخ ولاړ وو. د هر چا ذهن په خپل کورنې ما حول کې ډوب وو هر یو په لاس کې د کور له پاره یو څه نیولې وه .لمر هماغسې په برندو کتل لکه یو ګاونډ ی چې د بل ګاونډي د کور انګړ ته ګورې .خلک د م خود ولاړ ول. کله چې به بس راورسېد ټولو به هڅه کوله چې د بس دروازې ته لاس واچوي خوچې د چابه متره نه وه نو نهیلې به ستانه شول .اود بل بس په انتظار به شول .لمر هماغسې په غلچکې نظر کتل....اسمان هماغسې ولاړ وو . د اسمان غېږ هماغسې پلنه او پراخه وه . د کابل پر سر راسواره غرونه د پېښو په انتظار ول. او د نو یو کېسو د خوندې ساتلو له پا ره یې غېږ پرانېستې وه .لک څک یې کتل خو څه وشول.؟

له یوه درز سره سړک ټو ل په وینو سور شو .سړ ک د ښځو ځوانانو بوډا ګانو په غوښو او وینو ولړل شو .شور او زوږ پورته شو- لمر

هم ستړکي پټې کړې.داسمان خوله هم وازه پاتې شوه دکابل د شېردروازې دېوال نور هم سر راپورته کړ-نور هم پر ځای راپورته شو-یو وار بیا دعرب تېرېګرو په مخ کې دیوال شو دوېنو سېلاب وبهېد -دکورنیو هیلې دخپلو عزېزانو دلېدو له پاره همداسې دزمانې ژورې حافظې ته په ورکېنته کېدوشوې-

رسنېو اعلان وکړ چې دازادۍ دلارې ستر قوماندان (!) دکابل پرښار توغوندې وورول.خود تلفاتو شمېر مالوم نه دی.نو ځکه خواوس ددغه سپه سالار تصوېرد څلور لارې زېنت دې.اودغاړې هار دی(!)-بلکې دوطن هار دی،(!) اودازادۍ دناوې هار دی

((-(!)

اوس یې څوک رېږه او بربېت نه ګورې څوک یې پراخه تندې نه ګورې-خودزمان او تاریخ داکرشمه هم نه لولې چې وایي: وګورئ د هغه له خبرې لادماشومانو او دکابل د ښاربانو وېنې دزمانو باران نه دې وړې.تراوسه دهغو دوینو خاپونه دده پر مخ شته.

©©©

لاروی له څلور لارې تېرشو ،اخوا دې خوا ېې وکتل.خلک پلې او سواره ټول لاروي ته نااشنا وو. هوا اوفضا هم نااشنا وه.ناڅاپه یې د تېلفون غږواورېد .جیب ته یې لاس کړ.له یو دوست سره یې زړه نا زړه جوړ تازه وکړ .همدومره یې وویل - هو ښه یم.

څه دي و لېدل ؟

ـ هر څه نوي - خلک او نوي شیان.هرڅه نوې ننبې ننبانې.پخوا نو کوچ کرې دي نوي راغلي دي دوې ټول نااشنا دې.لاروي ناڅاپه بیا تېرې ماضي ته ستون شو -

((کلونه وړاندې ددې کورونو په مخ کې اخوا یوه ژوره وباله وه. زما ګاونډې به هره شپه هلته په وباله کې لوېدلي وو .هغه به پلاستېکې کڅوړې تشولي. ګنګس به پروت وو. په خپل کور کې یې هم ګوزاره سمه نه وه.اوچې وبه یې څښل نو دومره به پرې زبات شول چې بیا به یې راوګرځول کالې او جامې به یې ککړې کړې. او له ځانه به بې ځانه شو -ناڅاپه یې خپل هغه ګاونډی لوی اوهمداسې لوی اوککړ ولید - په سترګو یې تیاره خپره شوه - توره تیاره - په سرمو کې یې د ګرځون بوی احساس کړ ، - داسې چې ښار اوس په ګرځون کې ډوب دی ، د کرکو اونفرت ګرځون - لاروی هم د ګرځون برخه ده - ښار هم ګرځون نیولی دی ، اوتصویرونه اوقهرمانان هم د ګرځون له پاسه لامبو وهي ،

گرځون، هو د کرکو او نفرتونو گرځون - د نه هضميدونکو اوورستو شيانو گرځون چې هيڅ څوک يې نه شي هضمولای - بلکې گرځون کوي -

# يادونه او نکلونه.

خبر يې !زموږ د کلي فتح خان د شپيتو بريخو سره له ملکه ودانګل . کرمی هم ورسره و . کرمي ډيرې لارې ووهلې ډير کاروانونه يې لوټ کړل , بيا يې ډير پاټکونه جوړ کړل او ډير څه يې را ټول کړل خو اخير چې د مغلو په چړو ومړ نو بيا رابيا ګلې ورته جسد خيرې کړ . جسد يې ورته وچ کړ او د ګوارو په لويه کلا کې يې وساته . چې ګوندې يوه ورځ يې کلي ته يوسي خو باالاخره .....

داموده د څو ورځو او څو ساعتونو څه چې د څو شيبو په څير تيره شوه . زموږ د نسل تور بريت او تور ويښتان په کې سپين شول . چې شاته مخ اړوو نو اوس يوه پراخه هديره پرته ده -د کلي د چنار ډډ هم چنجو خوړلی دی .ښارو ګاني او کوترې په کې خپل غومبر وهي . خو يوه خبره په کې داده چې اوس زموږ همزولې نجونې دويالې پر سر دلمر خاته په لور اوربل نه ږمنځوي دا ځکه چې وايي: کونډې بايد سينګار ونه کړي .

راشه له بلې دې خبر کړم . رښتيا مامونی يې ووژله . هغې د پښتنې پت يو رسم پر ځای کاوه . ميلمه ته يې تمباکو ورکول . خو ميړه ته يې تربره پيغور ورکړی و چې ميرمن دې د ميلمه سره

پسېدله. شیرعلم ناڅاپه راغئ. له سترګو یې وینو دارې وهلې. دهغې لا دواده کالي په تن کې و اودلاسونو نکریزې یې لا نه وی سپینې شوې. څار ګل یې دمخ په کاسه کې رڼا کوله. اوږدې زلفې یې په ټټر خنګیدلې خو دشیرعلم دچاقو ګانو په وارونو سره دهغې خندا له مرۍ سره یو ځای غوټه شوه ، خندا څه په خوله او څه هم په ټټر کې پاتې شوه.

په خوړ کې ټکی او به نه وې دمامونۍ په وینو راغلل سیلابونه

نو دمامونۍ داستان اوس هره ورځ زموږ په چم ګاونډ کې تکرارېږي. مامونۍ هره ورځ حلالیږي. رابیا ګله هم نشته چې پوښتنې ته یې ورشې او دشیرعلم په مخ توف وکې.

داځل په وستل کې هغه شور نشته او هغه زور هم نشته. په کلي کې ارامه بده ورځ ده. ښاروګانې دچاودلو دیوالونو په سوړو ننوځي اونورې ترې راووځي. ونې سمسورې دي خو اوس هر سهار ددنګې ونې او چنار په جګه لښته هغه توراڼکه نه کښیني چې سندره ووایي. یوازې ګوګوشتکه کله ناکله راځي او همدا سندره ترپایه وایي:

ګوګو شتو ، ګوګو شتو

که غوښي مو خوړی نه وای چا به ولې وویشتو ۰

رښتیا خبر یې ؟

یو وخت چې د پشه کال ډیره سخته ګرمي وه کربوړو د دیوالونو له سوړو ګز ګز ږبې راویستې وې ماران له تندې لښتیو ته راوتلي و ۰ زه په لاره تیریدم ۰ دخپل کلي دوستل دخندې دیوال شاته یو زلمی ناست و ۰ رباب یې غږولو ۰ پوه شوم چې داادم خان دی هغه په خوند رباب غږولو ۰ د سید کمال اوببوجانې دمینې داستان یې د رباب په پردو کې غږولو ۰ پوه شوم چې دهغه په ذهن کې سید کمال پښې ابلې سرتور سر اوچاودې پوندی دښیوې په سړک پورته روان دی ۰ دتوکل بابا زیارت ته ورځي چې ورته دوعا وکړي اووایي: چې ای توکل بابا یا خو ببوجانه زما کړې اویا خو مې په دې تنکۍ ځوانۍ اور راپورې کړې ۰

بیا ادم خان ناځاپه تال بدل کړ د سید کمال کیسه یې نیمګړې پریښوده ۰ دیوسف خان اوشیربانو غمجنه کیسه یې درباب په پردو کې سوره کړه اوټوله صحنه یې خپلې مخې ته راحاضره کړه ۰

ادم خان په رباب کې هغه کیسه را واخیسته چې یوسف خان هندوستان ته په لاره دی ، او په یوه ځنګله کې په یوه بوډا او پیر

وربرابريږي٠ هغه ترې پوښتنه کوي٠ اودې ورته دخپلو تربورانو له لاسه شکايتونه کوي٠ پير يې پر سر لاس راکاږي٠ اويوسف خان ته دشيربانو دوصال دوعاهم کوي٠ يو سف خان رخصتيږي ٠ پير ترې تم کيږي په دې دومره اوږده موده کې ان تر ننه پورې زموږ کليوال دهغه پير په لټه کې دي اوڅوک يې نه مومي٠ پير ورک اوترې تم دی کليوال يې ګوري ، خلک وايي چې پير په کلي کې دی خو چاته ځان ورښکاره کوي اوچاته هم نه٠ دا ځکه چې پير زموږ له کليوالو سخت خپه دی٠

ادم خان لا په همدې نغمه کې و چې درخانۍ ورته ديخو اوبو له جام سره سرته ولاړه وه٠ هغه سترګې راپورته کړې ددرخو په ليدو يې درباب شهباز له لاسه ولويد اوبيايي سترګې همداسې ددرخو په اننګو اودټټر په کوترو نښتي پاتې شوې٠ زه لا دديوال شاته ولاړوم چې دشاعر دا خبره راته فکر کې راغله چې ويلي يې و٠

درخانۍ به په سرتورې ګډيدله چې به چيرته دادم درباب ترنګ شو

له ځانه سره مې وويل: دا شاعران هم بلا کوي٠ له ځانه خبرې جوړوي٠ دلته خو چې زه ګورم ددرخانۍ په ليدو دادم خان له لاسه شهباز ولويده اودرخاني چې ګورم دادم خان په ليدو پرکاله

شوه او داوبو ډک جام يې واړاوه· شاعران دې هم خدای لري چې څومره اوتې بوتی وايي· په همدغه شيبه کې د جومات له موړې نه پايو خان پر ادم خان غږوکړ چې ادمه نورې دې له کلي پښې وباسه· خو په هغه ورځ د ځمکې په پاس چت کې هيڅ نو کريوال نه و د نغلو د برښنا پايه هم چا الوزولی وه برښنا نه وه کنه نو ما به دادم اود رخو دزړونو درزاوی تاسو ته په ام پي ترې کې ثبت کړی وای اواوس به مو اوريدلې وای خو وروسته خبر شوم چې د برښنا دستنې الوزونکې پپ هپ هنبپ ټهې دی او اوس پهه لار گوډ گوډ خې·

که زموږ د ليدو کتو کلونه لږ تير شوي دي خو دا دروغ پـه شرع روغ دي چې موږ يوه پيږۍ شاته واچوله· په دې موده کې مو ايله بيلـه دومـره وکـړل چـې دژونـد خونـد زده کـړو· خـو زه چـې ويـنم ستاتور ويښتان هم رنگي دي، عينکې دې هم ذره بيني کړي دي · خـو يـوه پوښـتنه درنـه کـوم: دشـعر ملايکـه درتـه کلـه نـا کلـه دخشکيار او شاه تريني کيسه کوي او کنه ؟ شاتريني دخشـکيارد ځوانۍ په ليدو سره ځان لـه موذي وژغـوره او دخشـکيار دغـاړې هار شوه·

ځکه هغه په دې پوه وه چې:

موذي په مينه څه پوهيږي ٠        په ګيډه يې موږ که تر سبا کوي
خوبونه

خو يوه بله به هم درته ووايم: ارومرو چې خواشينى به شي ٠ مومن خان تيره اونۍ د شيرينو د پلار په باغ کې له شيرينو سره وليدل ٠ لومړى يې خواوشا وکتل چې څوک نه وي ٠ خو چې ډاډه شول نو دواړه د ګلابو د بوټي لاندې کښيناستل او دواړو يو بل ته د مينې اظهار وکړ ٠ شيرينو د مومن خان خبرې په زور وزير واورېدې ٠ او مومن خان هم ومنلې ٠ تيره پنجشنبه مومن په دروازه کې د قران پاک لاندې تير شو ٠ مچ يې کړ او د بلخ په لور روان شو دا ځکه چې شيرينو ورته ويلي و چې:

ورشه له بلخه دونيا راوړه    په رواجې دونيا مې پلار نه درکوينه

له دروازې څخه په وتلو سره د مومن خان مور داو داسه د کوزې يوه ډکه کوزه اوبه د هغه پسې وشيندلې او بيا يې د جوارو سوکړک ورپسې تول کړ ٠ د کابل نه واوښت ٠ او د شمال په لار د جنګل باغ په سيمه کې څو تنو ټوپک والاو ودرولو ٠ په بډه يې څلور سپينې روپۍ وې ٠ ترې راوې ويستلي او ترې وايي اخيستلي ٠

خو چې کله تاشقرغان ته ورسید ، نو یو پهلوان پخپله ولاړ و جیبونه یې ورته وپلټل . یوازې یوه سړه چنډه سوکړک ورسره و . له هغې یې هم نیمایي لا له مخه د اوبو او ایلنې سره خوړلي و . پهلوان په مرګ وواهه ، یوازې دومره یې ورته وویل : په دې لار بیا بې پیسو رانه شي .

مومن له څه زیاتې مودې وروسته بیرته تیره شپه کلي ته راغئ . په کلي کې یوه اوږده شپه وه . دا شپه لکه دولس کاله شپه ، داسې لکه چې کوم استازی معراج ته دراز ونیاز له پاره تللو . خو د مومن صبر ونه شو په توره شپه کې د شیرینو کټ ته ودرید او چې هغې چیغه کړه نو ظفر په خپلو چاقوګانو سوری سوری کړ ، او چې کله شیرینو د تیلو چمنۍ ولګوله نو ظفر خان هاغه وخت وپیژندلو چې دا خو مومن خان دی . مومن سوری سوری په وینو کې سور پروت و ، خو ظفر خان هم چاقو پخپله ګیډه ومانډه او شیرینو هم چې کله پوهه شوه نو په مومن پریوته او ان ترننه د هغه له سره تېر نه راپورته نه شوه . همداسې پرته ده او سلګۍ وهي .

رابیا ګلې د فتح خان مړی په اوښ ترلی و ، نور اته پنځوس بړیخ یې ښخ کړي و . بیا په وطن راغله . د مومن خان د کلا له مخې په داسې حال کې تیرېدله چې د اوښ جلو یې په لاس کې نیولی و .

خو دليلامي سراى دوكاندار په نريو قمچينو رابيا په پښو ووهله ورته وې ويل چې ولې دې د پښو بيجلكونه ښكاري٠ فتح خان له تابوت نه سر راپورته كړ٠ دليلامي سراى پلورونكي ته يې وكتل٠ همدومره يې له ځانه سره وويل٠لكه چې قيامت رانږدې شويدى٠ بيرته يې په تابوت كې سركيښود٠جنازه زموږ دكلي په كوڅو ننوته دكلي په وستل كې ډير خلك راټول و٠

ما چې مخ واړاوه نو يو بريتور ځوان مې په ونې پورې تړلي وليد -داكبر پاچا سپاهيان ترې تاو وه٠ په لښتويې وهلو٠ ماويل دا څوک دى ؟- يو ماشوم وويل دادشهى عاشق دلى دى٠ هغه ددې له پاره چې خپله معشوقه ترلاسه كړي اوواده يې كړې نو داكبر پاچا غلا يې كوله خود اكبر پاچاسړو ونيو بندي يې كړ اوس هالته گورې شهى هم هالته په هاغه كونج كې ناسته ده -شهى ورته له ورايه كتل -شهى سرتوره وه -ټكرى يې پرلاره لويدلى و اودهغې مجنون دلى په لښتو وهل كيده ، سپاهي چيغه كړه چې ژر يې مړ كړى كه ژوندى پاتې شو نو له ټولي پاچاهى نه به گرد پورته كړي ٠ خو شهى ورته له ورايه كتل٠دلي ورته په موسكو شونډو وويل مه خپه كيږه كه زه چا نه واى تړلى نو ستا له سره به ټكرى نه و لويدلى٠

شهى ويل ستا ژوند مې په كار دى-

دلي وويل :مه خپه كيږه زما مور ډير ارموني زيږولي دي -ولد يې زما دپلار كښلی خو خدای خبر چې دچا اولاد دی- تابه هم كوم يو چاته په نكاح كړې-

شهۍ ويل: سودا مه كوه ٠

هغه ويل: زه پوهيږم كه زه ژوندی نه ووم ستا سوداگر پلار به تا په كوم حرامي وپلوري-

هغې ويل زه هم په دې خپه يم- خو دا يې ورسره زياته كړه - چې دموذيانو په كولمو كې به هم كه خدای كول اوبه تودې نه شي-

په همدې خبره دلي خپله ساه اوروح حق ته وسپاره-

لندن-

۱۸ ۹ ۲۰۰ـ۵

## د ختېو کوټنۍ

کله چې ابا د هندوستان د میرو د اوږدې مزدورۍ نه کلي ته راستون شو -نو سم د واره یې د کور په جوړولو پیل وکړ - څه نقشې اورجې چې یې په ذهن کې وې له هر چا سره یې شریکې کړې او هر چا ته یې د نوی کلا د جوړولو تابیا وویله - په سبا د مزدورانو او ختېګرو په لټه کې شو - د کلا رجې یې وویستلې او دزړې کلا په خوا کې یې د نوی کلا له پاره خطونه واچول - رښتیا چې د هغه سره د نورو لیرې ملکونو تصویرونه په ذهن کې ول - فکر کوم چې هره شپه به یې فکر کاوه چې د اسې کوټې باید جوړې کړم چې لمر ورته راشي ، چې کړکۍ ولري - چې دروازې ولري - چې انګړ ولري - چې میلمستون یې بیل وي - چې تشناب ولري -چې دلمانځه له پاره ځای ولري - اوددې په خوا کې باید دټوپکو له پاره سورې ولري چې که دوښمن برید وکړي چې بې ځوابه پاتې نه شي -

ارو مرو چې هغه به په همدې فکر کولو چې که په کلي کې امن اوارامي نه وي نو دځان دفاع په کار ده -

ابامې دخپلې سختې مزدورۍ نه وروسته ډلې ډلې ختېګر راوغوښتل ، دکلي اوله کلي بهر یې ښه معمار پیدا کړ - دنوې

کلا رجې يې واچولي - يو اوبل ته يې لارښوونه وکړه - او چې کوم باتجربه کليوال به راغی نو دهغه نظر به يې هم واخيست - که دلمر په لور دروازه وي ,که دلمر لويدو په لور کړکۍ وي -دکوټې دا کنج او هغه کنج او هغه کړکی او داسې نورې ډېرې خبرې -

ابا به مې ډېره تلوسه درلوده په ډيره مينه به يې دنورو نظر هم اخيستلو - خپل نظر به يې هم وايه او په دې ډول به يې خپله ښه اوژوره مينه جوتوله -

خو اکامې بيا داسې نه وو - هغه به ويل دا سرزوري ده - اصحابو کرامو په خيمو کې ژوند کاوه - لويانو اوبزرگانو په کوډلو کې شپې سبا کولی پيرانو چېله ويستله - اودملنګۍ ژوند يې غوره کاوه -

خو ابا مې کله دچا منله - هغه دا فکر نه کولو -هغه ژوره مينه درلوده چې يو څه جوړ کړي او بيا نورو ته پاتې شي -

زه ماشوم ووم - هغه وخت ابا ماته داسې يوه خيره وه چې غوښتل مې دهغه کارونه وکړم - کټ مټ هماغه شم - ماته ابا داسې يو ايديال وو چې فکر مې کاوه چې هرڅه هغه کوي او هر قدم چې هغه ږدي هماغه سم دي - دادهر ماشوم سره ذاتي ځانګړنه وي - چې يو څوک دنمونې په توګه ومني او په ذهن کې يې داسې

وتوږي چې دهماغه په پل پل کيږدي - په فکر کې ديو ارماني شخص په توګه ورروزي - ما هم دا کار کولو - ما هم دابا تقليد کولو ماهم په هغه ځه لاس پورې کاوه او هغه څه ته مې ګوتې وروړلې چې هغه کولي -

ما له ختهو نه کوټنۍ جوړولي - له ختهو نه مې سړي جوړول - په خپل ذهن کې مې يوه ډېره خيالي اورومانتيکه دونيا تصوريروله - يوه داسې خيالي دونيا چې يوازې په ذهن کې ځاييدله - دختهو کوټنې ديو کلي مثال وو - هر وخت به چې دکلا درجو له پاره دودانيو له پاره ختهه جوړه شوه ما به ترې په کوچنيو لاسونو را بيله کړه - پيتاوي ته به کښيناستم - اوبيا به مې دکوټې په جوړولو پيل وکړ خوا کې به مې لښتي ورته جوړ کړ , ميلمستون به مې جوړ کړ - کټونه به مې دنمونې په توګه په کې کيښودل - خو چې سهار به له هماغې لارې غوايي اوځاروي تيريدل زما کوټې به يې له پښو سره وهلې وي - ريز مريز کړې به يې وې اوزما دخيال دونيا به يې لتاړه کړې وه -

بله ورځ مې دخپل اکا زوی له لاسه ونيو په دلاسا مې ورسره خبرې وکړې:

راځه چې دختهو کورونه جوړ کړو - راځه چې لوبې وکړو -لومړی يې چيړ کاوه - هغه به ويل پلار مې لوبو ته نه پريږدي - راته وايي

خپله زیړه غوا له پړي و نیسه او په پوله یې وڅروه چې غنم در نه و نه خوري - خو ما به ډیر تنګ کړ - راضي به مې کړ - بیا به راسره کښیناست - هغه به بیله او ما به بیله کوټنۍ جوړوله - دواړه ښه مصروف اولګیا وو - بوخت به وو - کوټې مو جوړولې کورونه مو جوړول او په جوړولو کې مې د تخییل او تصور دونیا نوره هم پراخیده - کله به ماضې ته تلله - او کله به هم په مستقبل کې تاویدله - خو داوس او حال په باب مو فکر نه کولو -

داکا زوی به مې یو وار زړه تنګی شو - ویل به یې:

زه نورې دا لوبې نه کوم - دا عبث لوبې دي - دا ماته خوند نه راکوي - دا زما خوښې نه دي -

خو ما به چیړ کاوه او په دلاسا به مې ویل وګوره ما څومره ښکلی کور جوړ کړ - دا یوه کوټه دا بله کوټه او دا هم بله کوټه - او همدا سې نورې زیاتې او پر سرېې دا هم نورې کوټې او دهغو پر سر دا سې نورې کوټې -

خو زما داکا زوی به لږه خته کیښوده بیا به هم زړه تنګی شو او ماته به یې مخ کړ - دا لوبې مې ښې نه ایسي او راځه چې کاڼي وکو - راځه چې پنډوس وکو - اویا راځه چې له ټانټو اولښتو نه ټوپکونه جوړ کړو - خو ما به ورته ویل - ګوره دا جونډۍ لوبه ده -

موږ په کلا ګانو او کورو نو کی ژوند کوو، وګوره زما پلار دلويي کلا رجې ويستلي دي - ډېرې کوټې جوړوي - او په هغو کې به بيا شپې ورځي تيروو - بيا به پکې ژوند کوو نو دا هم داسې واخله -

خو داکا زوی به مې بله کړه:

دا هسې عبث لوبې دي - دا کوټي خو نن جوړوو خو سبا يې څاروي د پښو لاندي کوي - ورانوي يې زموږ خواري هسې او به وړي - دا څو ورځي کيږي چې هره ورځ يې ته جوړوي - خو سبا ته پرې غوايان پښې ږدي - بيا يې ويجاړوي - دا سر نه نيسي - دا عبث کار دی - دا ځای نه نيسي - دا لوبه مې زړه تنګوي -

©.©.©

داکا دزوی سره په خبرو کې زما ختېه وچه شوه - له هوارولو ووتله - ورو پاڅيدم لښتي ته ولاړم - لومړی خو ډير تږي ووم په لښتي پريوتم خوله مې په اوبو کې کيښودله او ښايسته ډيرې اوبه مې وڅښلي - بيا کښيناستم - دلښتي په رڼو اوبو کې دلمر سترګې ځلا وکړه - په کې ښکاره شوه ان پاس اسمان په کې وځليده - نا څاپه مې خپلې څيرې ته هم پام شو - ګورم او څه ګورم ؟-

سر مې تک سپین دی ویښتان مې د عمر په اوږده خو لنډ سفر کې ټول رژېدلي دي - وروځي مې هم سپینې شو دي - په خپل مخ کاسه کې د عمرونو گونځي گورم - چې د هڅو او لالهاندیو کیسه کوي - خو بیا هم لپه جوړوم او به را اخلم - لاس مې لړزیږي - او به په کې نه ټینگیږي - او به را و اخلم بیرته د گوتو له منځه توې شي - دلښتي له سره را پورته کیږم - د دیوال چنې ته گورم - د منې وروستۍ شپې دي - سوړ باد را الوتی دی - د اکا زوی مې هم نشته هیڅوک نشته د پلار د نوی کلا رجه هم هما غسې پاته ده - دیوال یې نه دی پورته شوي - کوټې یې نه دي جوړې شوي - زما دلوبو کوټنۍ هم له پښو سره چپه شویده -

دابا په نویو رجو کې دباد څپې کښته پورته کیږي خځلي او خشاک په کې تاووي - زما دلوبو د کوټنۍ پته نه لگیږي -

اسعد اباد کونړ

دفبروې لومړۍ نیټه ۲۰۱۳ کال